2018

# Mix Mesala



Ketabton.com

masoodsohilzai12@gmail.com

Civil Engineering different parts info

(c) ketabton.com: The Digital Library



# STRUCTURE PART

## سیول انجینری: د سانیس د علم په رڼا کي ټول هغه کارونه چي د معماري په مقصد پرمخ ځي که هغه زیربنائي وي او که غیر زیربنائي وي لکه لوي لاري، ډیم، تونل، ساختمان او داسي نور ټول عبارت دی له سیول انجینري څخه

میخانیکي خواص د موادو مقاومت بني کله چه پري وزن عمل وکړي د میخانیکي خواصو پواسطه کولاي شو د موادو د تغیر شکل (deformation) او کلکوالي (stiffness) اندازه وټاکو دلته مقاومت (strength) مونږ ته اعظمي وزن په یوه سطحه باندي را په ګوته کوي کوم چه د torsion, flexure, shear, compression, tension او یا ضربي په شکل عمل کوی دا د یاداشت وړ خبره ده کله چه په موادو مختلف وزنونه په جمعي شکل عمل وکړي نو په نتیجه کی مختلفي کششي او تاړژني قواوي مینځ ته راځي لکه کله چی په یو بیم باندي قوه عمل وکړي نو په بیم کی د torsion, moment, shear force, bending په عین مقطع کی عمل کوی پدی اساس کله چه د یوی مقطع لپاره مواد انتخابوو باید ټولو قواو د دفعي قابلیت ولري د موادو د تغیر شکل ظرفیت د هغوي په ایلاستکي خاصیت (elastic modulus) پوري اړه لري باید د موادو د انتخاب څخه مخکی د نوموړي خاصیت وکتل شی سربیره پردی نور خواص لکه brittleness, plasticity, ductility هم په تغیر شکل کی ډیر مهم رول لري.

---

د موادو کیمیاوی خواص د هغوی د داخلي جوړښت او عکس العملونو پوري اړه لري د موادو په کیمیاوی جوړښت باندی چاپیریال ډیره اغیزه لري نو پدي اساس د هري منطقي لپاره جدا او بیل بیل مواد انتخابیري هغه مهم کیمیاوی خواص چه د موادو په انتخاب کی مهم رول لري عبارت دی له acidity, alkanity, resistance to corrosion د کیمیاوي فزیکی او میخانیکي خواصو سربیره نور مشخصاتو لکه acoustical, magnetic, electrical, thermal, optical څخه عبارت دی.

---

**Strain :** کله چی یو جسم د خارجي قوي د تاثیر له امله په طول کی تغیر وکړي د خطي تغیر (linear deformation) په نامه یاریږي چی نوموړي تغیر شکل په فی واحد د طول کی د strain په نامه یادیږي. نو پدی اساس strain د جسم د اصلي طول (L) او د تغیر شکل طول (e) تر منځ یو نسبت دی چی په ($\acute{e}$) ښودل کیږي $\acute{e} = \frac{e}{L}$

---

مثال: که چیرته یو 3in اوږد ربړ د خارجي قوي د تاثیر څخه ئي طول 4in ته وغزیږي تاسي ئي تغیر شکل او strain لاسته راوړي؟

$$\acute{e} = \frac{3in}{4in} => 0.75in$$

---

که چیرته یو قوه یا فشار مستقیما وارد شی منځ ته راغلی تغیر د خطي تغیر په نامه دی او که چیر ته قوه غوڅونکی ( shear force) وارد شی نو بیا غوڅونکی ستراین (shear strain) د غوڅونکی تغیر شکل څخه دی په فی واحد طول کی چی د غوڅونکی قوي په جهت باندی عمود وی کله چی یو جسم باندی اکسلي فشارونه وارد شی (tensile/compression) کوم تغیر شکل چی منځ ته راځی په یو جهت باندی نه وی بلکه په مختلفو جهتونو باندی عمل کوی یعني تغیر شکل هم په طول او هم په عرض کی منځ ته راځی نو پدی اساس طولي تغیر نسبت عرضي تغیر ته د (poison ratio) په نامه یادیږي د زیاترو ساختماني موادو poison ratio د 0.5 او 0.15 تر منځ وی که چیرته تغیر شکل د جسم په حجم کی وی نو بیا تغیر شکل د حجمي تغیر شکل (volume deformation) په نامه یادیري حجمي تغیر شکل په فی واحد د حجم کی د حجمی ستراین (volume strain) په نامه یادیري.

---

**Stress:** د خارجي قواو له اثره چی د ساختمان په داخل کی کوم تشنجات رامینځته کیري هغي ته stress وائي

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$stress = \frac{P}{A}$$

**Axle stress:** اکسلي فشار د جسم د محور په طول کی عمل کوی او که چیرته نوموړي قوه په کششي ډول عمل وکړي د tensile stress په نامه یادیږي او که چیرته نوموړي قوه کمپریسلي ډول عمل وکړی د compressive stress په نامه یادیږي

**Shear stress:** غوڅونکی فشار د داسي قوي پواسطه منځ ته راځي چه د جسم یوه زره پر بله وهی او د عمودی قطع سره موازیا عمل کوی مګر تینسلي او کمپریسلي قواوي عموداَ عمل کوی. هغه خارجی قوه چه bending او flexure stress باعث ګرځی په بیمونو او اجسامو کی bending moment منځ ته راوړي.

د فشار (pressure) او تشنج (stress) تر منځ فرق:

فشار د جسم په خارجي برخه عمل کوی او تشنج د جسم په داخلي برخه عمل کوی

**دتشنج ډولونه:**

**Tensile stress:** کششي تشنج

که چیرته یو جسم د دواړو خواو څخه د مساوی او مخالف جهته قوو پواسطه کش کړای شی نو جسم د اوږدیدو میلان پیدا کوي یعني هغه تشنج چی د جسم په مقطع کی رامینځته کیږي د کششي تشنج په نوم یادیږي او کوم نسبي بدلون چی د جسم په طول کی رامینځته کیږي (tensile strain) په نامه یادیږي پدی حالت کی د جسم عرضي مقطع کوچني کیږي.

**Compressive stress:** فشاري تشنج

که چیري یو جسم له دواړو خواو څخه د مساوي او مخالف جهته قوو پواسطه زور کړاي شی نو جسم د لنډیدو میلان پیدا کوی یعني هغه تشنج چی د جسم په عرضي مقطع کی رامینځته کیږي د فشاري تشنج په نوم یادیږي او د شکل کوم نسبي بدلون چی د جسم په طول کی رامینځته کیږي (compressive stress) په نامه یادیږي چي په نتیجه کی د جسم عرضي مقطع لوییږي.

د T ډوله بیمونو په اړه خپل معلومات ولیکي او هم وویاست چی په کوم حالت کی د یو بیم ډیزاین د T په شکل او په کوم حالت کی د L په شکل تر سره کیږي؟

که چیرته د سلب برخه د بیم سره فشاري قوو په زغملو کی کومک وکړي نو نوموړي بیم د T بیم په نوم یادیږي کله چی T ماډل ګاډر جوړه وه لومړی Girder بیا Beam او وروسته Slabs کانکریټ اچول کیږي.




نومړی سلب خپل وزن په بیم اچوی او بیم خپل وزن لوي ګاډر (Girder) ته او بلاخره ټول وارده بارونه column ته انتقالیږي او یا هم ویلي شو چه پایه باندی تکیه کوی او همدارنګه کولای شو چی په یو ریخت ډول جوړ کړو او یا بیل بیل ... که د فشاری بلاک اندازه د hf څخه یوي وی نو T-beam په څیر محاسبه کیږي او که فشاري بلاک کوچني وی بیا د L بیم په شکل محاسبه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






**T-beam spacing:** T ډوله ګاډرونو د مرکزونو تر منځ فاصله ده چې په عام ډول سره په کانکريټي سلب سيستم کی د T ډوله ګاډرونو تر منځ فاصله ثابته وی.

**T-beam tributary width:** T ډوله ګاډرونو د مرکزونو ترمنځ د دوو نژدي فاصلو منځني اوږدوالي دی او داسی باید تصوير شی چی د باريدنی عرض هغه عرض دی چی بار د T ډوله ګاډرونو له پاسه تکیه کوی

**T-beam tributary area:** هغه ساحه چی د هغی ټول بار په T ډوله ګاډر تکیه کيږي.

د پوښښ سيستم هر T ډوله ګاډر دوه فاصلي اوبو د باريدني عرض لري كه چيري دا فاصلي په يوه يا مساوي اندازه وی نو د باريدني عرض فاصله هم سره مساوي اندازه وی.

د T ډوله ګاډر فعاله مقطعه: د ګاډر هغه د نني عرضي مقطع ده چی د بيروني قوو په وړاندي مقاومت کوي.

په فعاله مقطع کی لاندي اصطلاح ګاني موجودی دی:

**Web/stem** وتلي برخه يا تنه: د T ډوله ګاډر د عرضي مقطعي عمودي برخه ده

**Flange** طاقچه: د T ډوله ګاډر د عرضي مقطعي افقي برخه ده چی د T ډوله ګاډر او کانکريټي پوښښ تختي تر منځ عمودي ساحه تشکيلوي.

**L-beam:** هغه ګاډر چی د پوښښ تخته ورسره يو ځاي يا يوازي يو لوري ته واقع وی L بيم نوميږي.

---

سوال:20 عدد سيخ قطر 12 ملي تبديل کنيد؟

$$N_1 = \emptyset 20mm => 20N$$

$$N_2 = \emptyset 12mm => \ \ ?$$

$$N_1 * \frac{\pi\, d^2}{4} = N_2 * \frac{\pi\, d^2}{4}$$

$$\left(\frac{4}{\pi}\right) * 20 * \frac{\pi\, 20^2}{4} = N_2 * \frac{\pi\, 12^2}{4} * \left(\frac{4}{\pi}\right)$$

$$20 * 20^2 = N_2 * 12^2$$

$$N_2 = \frac{20 * 20^2}{12^2} => \frac{8000}{144} => 55.56 => 56N \text{ عدد}$$

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال:د پلچک د سلب یوه تخته چي په هغه کي سیخان ($18mm@125mm\ c/c415fy$)ورکړل شوي دي تاسو د نوموړي په عوض 12mm سیخان استعمال کړي نو اوس وښائي چي ددي د سیخانو تر منځ به څومره فاصله وي لکه (12mm@? c/c320fy)...... ؟

$$d_1 = 18mm@125mm\, c/c\ 415fy$$

$$d_2 = 12mm@\ ?\quad c/c\quad 320\, fy$$

$$d_1 * C_1 * f_1 = d_2 * C_2 * f_2$$

$$C_2 = \frac{d_1 *\ C_1 *\ f_1}{d_2 *\ f_2}$$

$$C_2 = \frac{18 * 125 * 415}{12 * 320} = 243mm$$

$$d_2 = 12mm@\ \ 243mm\quad c/c\quad 320\, fy$$

---

د سلب د سیخانو ځاي په ځاي کولو د پاره دوه جالي په پام کی نیول کیږی .........Reinforcement

لومړی :Main Rebery

دا سیخان د کړیدني (انحنائي)مومنت د مقاومت د پاره ځاي په ځاي کیږي چه د بنستیزي یا اساسي سیخبندي په نامه یادیږي او لنډ لوري ته ځاي په ځاي کیږي. نوټ: په دوه اړخیزسلبونو (two way slab) کی دواړه لورو ته سیخان اساسي دي.

دوهم: Secondary shrinkage

دا ډول سیخان د دویمي جالي په نامه یادیږي چی باالمقابل یا متقاطع لوري کی ځاي کیږي او د تودوخی او انقباض سیخان هم ورته ویل کیږي د حرارت له امله چه کوم شرنکیج رامینځته کیږي ددي د پاره دا سیخان اچول کیږي .یعني اوږده لوري ته اچول کیږي.

---

**Shrinkage:** په دوه ډوله دی.

الف:plastic Shrinkage کله چی تازه کانکریتو څخه اوبه تبخیر شي د اوبو د تبخیر په نتیجه کی کانکریت ناسته کوي چي همدي ناستي ته پلاستکي انقباض ویل کیږي.

ب:Drying Shrinkage کله چی کانکریتو ته اوبه ورکول شروع شي ددي وخت څخه د ساختمان تر عمره پوري چی کوم شرنکیج رامینځته کیږي همدي ته وچ انقباض وائي په اول کی 90% وچ انقباض رامینځته کیږي.

**Difference between power and energy:**

انرژي: د کار کولو قابلیت ته وائي. **E=**(قوه)f x (فاصله) d

قوه: هغه عامل دي چي په یوه جسم عمل کوي او هغه جسم د خپل ځایه بي ځایه کوي. **F=**(کتله)m x(تعجیل)A

---

په سنکاري کي د % (30-35) مصاله په نظر کی نیول کیږي او په خښتکاري کی د %(25-28) مصاله په نظر کی نیول کیږي........... اوس غواړو چی په دیوال کی د خښتو او سیمنتو مقدار په لاس راوړوو.

$$wall\ Vallume = 5m * 3m * 0.35 = 5.25m^3$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$Mortar\ Vallume = 5.25m^3\ * 0.28 = 1.47m^3$

$Net\ Wall\ Vallume = 5.25m^3 - 1.47m^3 = 3.78m^3$

$one\ brick\ Vallume = 0.22m * 0.11m * 0.07m = 0.001694m^3$

$$in\ one\ cub\ meter\ number\ of\ bricks = \frac{1m^3}{0.001694m^3} = 590N$$

$total\ bricks = 3.78m^3 * 590 = 2230.2N$

$waste\ of\ bricks = 3\%$

$= 2230.2 * 0.03 => 67$

$Grand\ total\ bricks = 2230 + 67 \cong 2300N$

---

اوس هغه مصاله چې مونږه په دیوال کی کارولي ده ددي د شګو او سیمنټو اندازه پیدا کوو .

$Vallume\ of\ Mortar = 1.47m^3$

$$M100 = 1{:}3$$

$$Cement = \frac{\frac{1.47m^3}{4} * 1 * 1.52}{1440\frac{kg}{m^3}} = 806.4kg/50kg = 16\ bag\ of\ cement$$

$$Sand = \frac{\frac{1.47m^3}{4} * 3 * 1.52}{3m^3} = 0.56\ trak \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots..almost\ semi\ trak\ sand$$

---

د کانکریټو څخه تر هغه وخته پوري مراقبت وشي تر څو کانکریټ خپل 70% مقاومت حاصل کړي د کانکریټو د مراقبت موده نظر د سیمنټو ډول ته د ASTM کوډ په اساس لاندي ډول ده.

1- ASTM C150 ………………………………………….Type I Cement 7 day
2- ASTM C150…………………………………………….Type II Cement 10days
3- ASTM C150………………………………………………Type III Cement 3days
4- ASTM C150………………………………………………Type IV or V Cement 14days

---

**Scales:** مقیاس د جسم یا یوه ساختمان رسم شوي اندازه او د جسم حقیقي اندازي تناسب څخه عبارت دی یا په بل عبارت د جسم خطي او طبعي اندازي نسبت ته وائي.

$$M = \frac{l}{L} = \frac{\text{د جسم یا یو ساختمان رسم شوي اندازه}}{\text{د جسم حقیقي اندازه}}$$

په عمومي ډول مقیاسونه په دري ډوله دي.

1- طبعي مقیاسونه (full size) …………… ...... 1:1

(c) ketabton.com: The Digital Library



2- لویوونګي مقیاسونه (Reduction).................... 2:1
3- کوچني کوونکي مقیاسونه (Enlargement) ........ 1:2

---

تهداب ها به چند نوع است؟..................................تهداب ها به سه نوع است.

1- تهداب های میخي یا ستوني
2- تهداب های فیته ئي
3- تهداب های فرشي

تهدابونه د ساختماني موادو له مخی په څلور ډوله دي.

1- ډبرین تهدابونه
2- ډبرین کانکریټي تهدابونه
3- کانکریټي تهدابونه
4- اهنګ کانکریټي تهدابونه

د تهدابونو اساس هم په څلور ډوله دی.

1- ډبرین اساسونه
2- جعل داره اساسونه
3- شګلین اساسونه
4- خاورین اساسونه

---

د تعمیر په بدنه کی څلور ډوله دیوالونو څخه استفاده کیږي.

1- وزن برداره دیوالونه
2- پارټیشن وال
3- زوند دیوالونه (هغه دیوالونه چی د پایو پواسطه د تعمیر وزن انتقالوي لکه(کمان شکله دیوالونه)
4- شیروال (shear wall)

د ودانیو د ساختمان تخریب د زلزلي قوي له نظره په دري ډوله ده.

اول: خفیفه تخریب دوهم: متوسط تخریب دریم: قوي(شدید) تخریب

په یو تعمیر کی اماکن په دری ډوله دی ...

اول: اساسي اماکن (اطاقونه)

دوهم: ارتباطي اماکن (زیني او لیفټ)

دریم: کومکي اماکن (تشنابونه او اشپزخاني)

---

زیني په دري قسمه دي.

اول: اساسي زیني دوهم: فرعي زیني دریم: فراري زیني

---

زیني عموما په دوه ډوله ځایونو کی جوړیږي. (کتاري ارتفاع (0.75→1m) او ستپیونه ئي د 12 څخه زیات نشي).

1- Public building
2- Residential building

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| Riser = (12→15) cm | Riser = (15→18) cm |
| Tread = (25→30) cm | Tread = (22→25) cm |
| Wide of stair = (180→200) cm | Wide of stair = (80→100) cm |




---

$$\frac{\pi.(\frac{d}{8})^2}{4}$$ ● د سيخ د مقطع د معلومولو د پاره د نومړي فرمول نه استفاده کيږي....

د سيخ نمبر # موږ ته د سيخانو قطر ، مقطع او وزن ښيي او همدارنګه د ګريډ پواسطه مقاومت معلوميږي. مثلا 40 ګريډه سيخ ددي معنی داده چې نومړي سيخ 40000psi مقاومت لري.

د سيخ قطر په دي طريقه پيدا کيږي...................... .... $\left(\frac{\#.d}{8}\right) * (2.54cm) * (10mm)$

د يو متر سيخ د وزن د پيدا کولو د پاره د لاندي فرمولونو څخه استفاده کيږي.

$$W = \frac{d^2}{36} * 0.222 ==> {}^{kg}/_{m}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$W = \frac{d^2}{162.162}$$

$$W = d^2 * 0.0062$$

په عامه مسکوني ودانیو کی موږ ډیزاین نه تر سره کوو بلکی د column د مقطع یو فیصد په نظر کی نیول کیږي.

فرضاً : $N/bar = \frac{0.25*0.30}{0.01} = 7.5 \cong 8$ مطلب دا چی 25 په 30 سانتیو کی چی دا مقطع ده پدی کی 8 دانی سیخان اچول کیږي .....................

په سلبونو کی 3# نمبره چی تقریبا 10mm کیږي او 4# نمبره چی تریبا (12.7~13)mm سیخان کیږي استعمالیږي او په بیمانو کی 6# نمبرو څخه پورته سیخان استعمالیږي چی تقریبا (16~20)mm پوري رسیږي.

او همدارنګه د slabs او foundation د پاره باید (2500~3000)psi کانکریټ په نظر کی ونیول شي.........

کانکریټو مارکونه او د اوبو او سیمنټو نسبتونه (w/c).......

$M300 \quad ===> 1:1:1.5 \quad ===> 0.45$

$M250 \quad ===> 1:1:2 \quad ===> 0.50$

$M200 \quad ===> 1:1.5:3 \quad ===> 0.52$

$M150 \quad ===> 1:2:4 \quad ===> 0.70$

$M100 \quad ===> 1:3:6 \quad ===> 0.78$

$M75 \quad ===> 1:4:8 \quad ===> 0.9$

$M50 \quad ===> 1:5:10 \quad ===>$

نوټ: کله چی مونږه وغواړو چی د 300 مارکو او یا ددي څخه لوړ مارک کانکریټ تولید کړو نو بیا Admixture ته ضرورت لرو چی ورعلاوه ئي کړو ........

مثال: که چیرته 300 مارکه کانکریټ تولیدول غواړو او پدي کی 20 بوجی سیمنټ استعمال شی نو څومره اوبو ته به ضرورت وي.

$MARK = 300M$ $\qquad$ $W = 0.45 * 20 * 50 = 450kg \approx 450lit$

$Cement = 20\ bag$

$W/_C = 0.45$ $\qquad$ نوټ: د اوبو حجمي کثافت 1000 kg/m$^3$

$Water\ = ?$

کله چی مونږه وغواړو واحد $^{lb}/_{in^2}$ ته تبدیل کړو نو د 0.07 سره ئي ضربوو . لکه په لاندی ډو ل................

$$6000psi = 6000 * 0.07 = 420\ ^{kg}/_{cm^2}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کانکریټو کی باید د coarse Aggregate د غټې داني سایز د لاندی دري شرایطو په نظر کی نیولو سره انتخاب شی.

1- د قالب د دوه مخونو تر منځ د فاصلی د $\frac{1}{5}$ برخی څخه سایز لوي نشي ..

2- د کانکریټو د ضخامت د $\frac{1}{3}$ برخی څخه سایز لوي نشي.

3- د سیخانو تر منځ د فاصلی د $\frac{3}{4}$ برخی څخه سایز لوي نشی.

---

د ډیزاین طریقي :

1- Working stress design method
   a. Elastic design method
   b. Permissible design method
2- Limit state design method
3- Ultimate strength design method
   a. Load and resistance factor design method (**LRFD**)

---

د کانکریټو کششي مقاومت په دریو طریقو پیدا کیږی .



1- Flexural tensile strength : شلیدني یا ویجاړیدني موډل

$$f_r = \frac{P_{max}.L}{b.h^2}$$



2- Splitting tensile strength : چوونکی کششي مقاومت

$$f_c = \frac{2.P_{max}}{\pi.d.L}$$



3- Direct tensile strength: مستقیم کششي مقاومت

$$f_c = 56.\sqrt{f_ć}$$

---

**At ultimate loads**

کله چی د load اندازه نوره هم زیاته کړل شی داخلی تشنجات خپل اعظمي ټاکل شوي لمیټ ته رسیږي او په دوه ډوله ماتیدنه منځ ته راځي.

اول : که چیري مناسب اندازه سیخ کارول شوي وي سیخان به د کانکریټو څخه مخکی ایلډنګ وکړی دا ډول ماتیدنه ډیره بنه وي او tensile control failure په نامه یادیږي د ACI کوډ له مخی دا ډول ماتیدنه د ساختمانونو د ماتیدو څخه مخکي د احطیاطي تدابیرو اخطار ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم : که چیري د سیخ اندازه ډیره زیاته وي د کانکریټو تشنجات د سیخانو ایلډنګ څخه مخکی خپل اعظمي حد ته رسیږي او کانکریټ بیدون د څه اخطاره ماتیږي کوم چی brittle failure دی او دي ډول ماتیدني ته compression controlled failure ویل کیږي ..

---

Serviceabilityپه دوه اساسي فکتورونو اغیزمینه کیږي...

الف: cracks ب: deflection د: fire protection هم کیداي شي.

ساختماني مواد عموما په دوه ډوله ویشل شوي دي.

اول : Ductile (پلاستکي مواد) دوهم : Brittle (شیشه ئي مواد )

---

ساختماني مواد نظر دغه لاندی خصوصیاتو ته انتخابیږي .

1- قوت او د وزن انتقال
2- مدت
3- ښکلا او منظره
4- قیمت او موجودیت
5- د چاپیریال اغیزه

---

سیمنټ د جوزف اسپیډن لمړني انګریز وه چی په 1824 کی د خاوري او اهکي ډبرو ته حرارت ورکړو او د پارټلنډ سیمنټ ئي منځ ته راوړل .

---

د سیمنټو پروسس په څو مرحلو کی صورت نیسي؟ ....................اول: Dry دوهم: Wet

---

ANSI: American National Standard Institute (New yark)

NFPI: National Forest production Association (Washington)

PCA: Portland cement association (England)

PCI: American concrete institute (Farmington Hills)

AISC: American institute of steel construction (Chicago)

ASTM: American society of testing and materials (west Conshohocken)

---

د سیمنټو کیمیاوی ، صنعتي نومونه او نور مشخصات:

| مرکب | کیمیاوي فورمول | صنعتي کوډ | د سلني اندازه | د اوبو سره د عکس العمل اندازه |
|---|---|---|---|---|
| Tri calcium silicate | 3Cao $Sio_2$ | $C_3$ S | 35 – 65 | Medium |
| Di Calcium silicate | 2Cao $Sio_2$ | $C_2$ S | 15 – 40 | Slow |
| Tri calcium aluminate | 3Cao $Al_2O_3$ | $C_3$ A | 0 – 15 | Fast |
| Tetra calcium aluminate | 4Cao $Al_2O_3$ $Fe_2O_3$ | $C_4$ AF | 6 – 20 | Medium |

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصالي (mortar) څلور ډوله دی نظر مقاومت ته

1- Type M
2- Type S
3- Type N
4- Type O

**Slump:** سلمپ ټسټ د کانکریټو د نرموالي د اندازه کولو څخه عبارت دی چی د کانکریټو په مخلوط کی د اوبو مقدار معلوموي.

سلمپ ټسټ په دري قسمه دی.




د سلمپ اندازي:

| Recommended slumps for various type of construction | | |
|---|---|---|
| Type of construction | Max slump | Mini slump |
| Reinforced foundation walls and footing | 3" (7.5cm) | 1" (2.5cm) |
| Plain footing , caissons sub structure wall | 3" (7.5cm) | 1" (2.5cm) |
| Beam and reinforced walls | 4" (10cm) | 1" (2.5cm) |
| Building columns | 4" (10cm) | 1" (2.5cm) |
| Pavements and slabs | 3" (7.5cm) | 1" (2.5cm) |
| Mass concrete | 2" (5cm) | 1" (2.5cm) |




د سلمپ ټسټ د لوښي اندازی:

نوموړي لوښی د مخروط په شکل دی چی برني اندازه یی 4in او قاعده یی 8in او ارتفاع یی 12in ده او د tamping rod اندازه یی 24in ده چی په دري layer کی ور کی مواد اچول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سيمنټو اندازه د پيدا کولو طريقه:

$$w/c = 0.5$$

$$W = 180\ {lb}/{yd^3}$$

$$C_q = cement\ quantity$$

$$C_q = \frac{W}{w/c} = \frac{180\ {lb}/{yd^3}}{0.5} = 360$$

$$= \frac{360}{2.2} = 163.63kg$$

$$= {163.63\ kg}/{50\ kg} = 3.3\ bag$$

---

**ګډونکي مواد (Admixture) عموماً په دوه ډوله دي.**

1- Chemical Admixture (کيمياوي دواګاني)
- i. Air-entraining admixtures
- ii. Water-reducing admixtures
- iii. Retarding admixtures
- iv. Accelerating admixtures
- v. Super plasticizers admixtures
- vi. Corrosion-inhibiting admixtures
- vii. Shrinkage-reducers admixtures

2- Mineral Admixture (منرالي دواګاني)
- i. Fly Ash

First: Class C Second: Class F

- ii. Silica fume
- iii. Ground granulated blast furnace slag

دواګاني نظر د سيمنټو اندازي ته استعماليږي يعني که سيمنټ زيات وي نو دوا کمه او که سيمنټ کم وی نو دوا زياته استعماليږي يعني که $1m^2$ ساحه کی 100kg سيمنټ استعمال شی نو پدی کی 0.2% دوا اچول کيږي.

$$\frac{0.2}{100} = 0.002 * 1000gr = 2gr$$

---

په کانکريټو کی عموما څلور ډوله سيخان استعماليږي چي عبارت دی له

1- A615(billet steel, Deformed and plain bars)راخی لرونکي سيخان دی زيات استعمال لري
2- A616(Rail steel, Deformed and plain bars)
3- A617(Axle steel)اکسل سيخ نرم سيخان دی چی د کشش په مقابل کی زيات مقاومت لري او استعماليږي
4- A706(low-alloy steel bars)

اوسپني حجمي وزن ($7850\ kg/m^3$)

---

لمړي ځل د پاره د خښتي استعمال په مصر کی وه او وروسته په يونان کی پيل شو ددی نا وروسته بيا په روم کی د خښتي سټنډرډ شروع شو او تر اوسه پوري په مختلفو سټنډرډونو خښتي استعماليږي.چی د خښتی هغه سټنډرډ سايزچی په افغانستان کی

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعماليږي(22*11*7)cm دی.چی دا په حقیقت کی هندي سټنډرد دی.او همدارنګه هغه دیوال حجمي وزن چی پخه خښته ، ریګ او سیمنټ پکی استعمال شوي وی $1800\ ^{kg}/_{m^3}$ دی او د پخي خښتي حجمي وزن $1600 - 1900\ ^{kg}/_{m^3}$ دی.




عموما خښتي په څلور ډوله دی کوم چی په ساختمان کی استعمالیږي

1- Building bricks (د معماري خښتي)
2- Facing bricks (د ښکلا خښتي)
3- Floor bricks (د فرشونو خښتي)
4- Paving bricks (د پیاده رونو خښتي)

---

د ودانیو خښتي په دریو کټګوریو یا درجو ویشل شوي دی چی نظر مدت ته ټاکل کیږي.

1- Grade SW ( زیات مقاومت)
2- Grade MW (اوسط مقاومت)
3- Grade NW (هیڅ مقاومت)

---

Facing bricks: معمولا په دري ډوله تولیدیږي کوم چی د لیدو د فکتورونو په اساس تعینیږي.

1- Type FBS (سټنډرد خښتي)
2- Type FBX (ځانګړي خښتي)
3- Type FBA(مهندسي خښتي)

---

د خښتي سټنډرد رنګ په دوه ډوله دی.

1- Terra Cotta
2- Brownish Orange

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خښتي کثافت یا وزن د ختي د مخصوصه جاذبیت (specific gravity) د جوړیدو طرز او د پخولو د درجی پوري اړه لري د ختي مخصوصه جاذبیت معمولا د (2.6→2.8) تر منځ وی همدارنګه د پخولو څخه وروسته د نوموړو موادو کثافت معمولا $1600kg/m^3$ وي چی اوسط اندازه ئي $2000kg/m^3$ ده.

پرته د کږوپیدني (Deflection) د پیدا کولو څخه د RCC ګاډرونو اصغري ضخامت پیدا کول.

| Member-عنصر | Simple supported | One end continues | Both end continues | Cantilever |
|---|---|---|---|---|
| ګاډر - Beam | $L/_{16}$ | $L/_{18.5}$ | $L/_{21}$ | $L/_{8}$ |

او د لاندی جدول څخه د پوښښونو ضخامت اخستل کیږي چی بیا کږوپیدني یا خمیده ګي محاسبي ته اړتیا نه لیدل کیږي.

| Member- عنصر | ساده اتکا، لرونکی | یو لوري ته ادامه لرونکی | دواړو لوري ته ادامه لرونکي | کانټلیور |
|---|---|---|---|---|
| One way slab – یو اړخیز پوښښ | $L/_{20}$ | $L/_{24}$ | $L/_{28}$ | $L/_{10}$ |

**Deflection**

1- Short term deflection (نوموړي خمش د لوډ له وجی رامنځته کیږي)
2- Long term deflection (نوموړي کږوپیدنه د کریپ او شرنکیج له وجی رامینځته کیږي)

اوږد مهاله کږوپیدنه متاثره کوونکي عوامل په لاندی ډول دی.

1- تودوخه
2- نمي یا رطوبت
3- عمر
4- د فشاري سیخانو مقدار
5- ترائي

**Bending Moment:** د ټولو مومنټونو الجبري مجموعي څخه عبارت دي کوم چي د مقطع په ښي او چپ طرف کی واقع کیږي

**Shear force:** د هغه غیر متوازني عمودي قوي څخه عبارت ده چه د مقطع په ښي او چپ طرف کي واقع کیږي.

د یو کانکریټي عنصر د وزن پیرا کولو فرمول : $W = \gamma * (a.b) * L * n$

Bending Moment د څه شي له امله منځته راځي؟

1- د ایلاستکی خاصیت پوري مربوط دی
2- د زیات اوږد والي له امله
3- د جسم د خپل وزن له امله

**عرضی قوه:** د مقطعي ښي لوری ته ټولي هغه قوي چی جهت ئي ښکته وی په مقطع کی مثبته عرضي قوه تولیدوی او چی جهت ئي پورته وی منفي عرضي قوه تولیدي وی په عمومی ډول ویلای شو چی په مقطع کی هغه عرضي قوه چی جسم ته د ساعت د عقربی مطابق دوران ورکړی مثبته او هغه چی د ساعت عقربي خلاف ورته دوران ورکړی منفي ګڼل کیږي

کوږوالي مومنټ: په یوه مقطع کی د کوږوالي مومنټ دی که بیم داسی کوږ کړي چی پورته خواته مقعرشی له بله پلوه د کوږوالي مومنټ منفي دی که چیري بیم داسی کوږ کړي چی پورته خواته محدب شی.

ګاډر : هغه ساختماني عنصر څخه عبارت دی کوم چی په کوږوالی یا انحنا، کی فعالیت تر سره کوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$b/a > 2 \;\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots.\, one\ way\ slab$$

$$b/a < 2 \;\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\, two\ way\ slab$$

---

اتکا، ګاني په دري ډوله دی :

1- Roller support متحرکه
2- Fixed support سخته
3- Hinge support ساکنه

---

د بیمونو ډولونه نظر اتکا،ګانو ته په څلور ډوله دی.

1- Simply support beam
2- Cantilever beam
3- Fixed support beam
4- Continuous beam

---

د تحلیل او ډیزاین تر منځ توپیر:

تحلیل د قوو اغیزه ده د ساختمان په مختلفو برخو باندی او ډیزاین د قواؤ له امله چی کوم تشنجات رامینځته کیږي ددی په اقتصادي ډول له مینځه وړلو د پاره د مناسبو موادو ، ابعادو ، مقطعو او د سیخانو د قطرونو ټاکل دی .

---

Structureڅه ته وائي؟

ساختمان عبارت د هغه وصل شوو برخو څخه دی کوم چی یو خاص هدف ولري او وارده بارونه په منظم توګه تهداب ته انتقال کړي لکه تعمیر پل ډیم .........

نوټ: کله چی سلب او ګاډر کانکریټ یو ځاي اچول کیږی دی ته monolithic construction وائي.

---

Load/ بار: هغه یو خارجی عامل (external agent) دی چی ساختمان حالت کی تغیر راوړي .......او په دری ډوله دی

**1- Dead load**

مړ یا دایمی بار هغه بار څخه عبارت دی چی د هغه موقعیت او مقدار ثابت وی لکه self-weight

A=self-load

B=S.D.L (super imposed dead load)

**2- Live load**

ژوندی بار د هغه بار څخه عبارت دی چه د هغي په موقیعت او مقدار کی تغیر راځي لکه د انسانانو او اعراده جاتو وزن.

**3- Environmental load**

دا د هغه بار څخه عبارت دی چی د محیط له امله ساختمان اغیزمند کوی لکه .... snow-load, wind-load, EQ-load

---

Requirement of design: د ډیزاین اړتیاوي

1- Safety(حفاظت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



2- Architecture(مهندسي)
3- Serviceability(بهره برداري يا ګټه اخستنه)
4- Economy(اقتصادي)
5- Environment(چاپيريال)

Simply supported beam and cantilever beam (دواړه معين ساختمانونه دی)
Fixed supported beam and continues beam (دواړه نامعين ساختمانونه دی)

**د معين او نامعين فرقونه**




**هميشه د پاره منفي مومنټ اتکاء ته نژدي منځ ته راځي.**

1- نامعين کی اعظمي مومنټ $PL/_8$ او معين کی اعظمي مومنټ $PL/_4$ دی يعنی نامعين نظر معين ته کم اعظمي مومنټ لري.
2- که چيرته په عين ابعادو، وزن ، مقطع لرونکی معين او نامعين ساختمان باندي عين وزن وارد شي نو نامعين زياتي محاسبي ته ضرورت لري او معين بيدون د کومی محاسبی حليږي .
3- د نامعين ستاتيکي ساختمانونو ابعاد نظر معين ساختمانونو ته ډير کوچني وی لکه




4- د نامعين ستاتيکی ساختمان د جوړښت مصارف نظر معين ساختمان ته ډير زيات وی.

Hinge supportedمومنټ نه لري مثبت مومنټ د پاره neutral axis (NA) غيرفعال محور لاندی کشش پيدا کيږي او همدارنګه مثبت مومنټ د پاره سيخ لاندی اچول کيږي او منفي مومنټ کی کشش پاس پيدا کيږي نو سيخ هم پاس اچول کيږي

د مومنټ ويشني ميتود: د اورډيني ميتودونو څخه يوه دی او په څو منزله او څو وائي لرونکي چوکاټونو کی تري ډير په اساني او چټکتيا استفاده کيږي نوموړي ميتود په کال 1930 ميلادي کی د هارډی کراس لخوا اخذ شوي او همدارنګه کيني ميتود په کال 1947 ميلادي کی د پروفيسور کسپرکني کوم چی د المان اوسيدونکی وه مينځه راوړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پارټلیند سیمنټو مهم ډولونه چې هر یو ئي په خاصو شرایطو کی کارول کیږي په لاندی ډول دی .**

Type-I cement: په عادي ودانیو کی کارول کیږي.

Type-II cement: په عادی ودانیو کی چی د هایدریشن د زیاتي تودوخي تولیدول مطلوب وی کارول کیږي.

Type-III cement: په لنډه موده کی اعظمي مقاومت ته رسیږي.

Type-IV cement: هغه وخت کارول کیږي چی د هایدریشن د کمي تودوخي تولیدول غوښتنه وي.

Type-V cement: هغه وخت کارول کیږي چی د سلفیتو په مقابل کی زیات مقاومت غوښتنه وي.

---

د يوي 50kg کاغذي بوجي سیمنټو حجم $1/_{30}\,m^3$ ده نو د منک (مناک) اندازه د یوي بوجي د پاره $(0.30X0.30X0.37)m^3$ ده.او چی پدی اندازه کی 10 litter اوبه ځایږي

د کانکریټو د اچولو په وخت کی باید د تودوخی درجه له 4C° څخه کمه او تر 21C° څخه لوړه نه وي.

---

**بعد از انتخاب سیستم قالب نوبت به طراحی قالب می رسد، گام های اساسی در طراحی قالب عبارتند از:**

1. طرحی عمومی و هندسه قالب
2. تعین بار های وارده
3. محاسبات استاتیکی و تغیر شکلی
4. تهیه جزییات و نقشه های ساخت

---

مصالح متداول برای ساخت قالب عبارتند از:

1. چوب
2. الومینیوم
3. فایبر گلاس
4. ورق های فولادی و نیمرخ های سبک فولاد

---

انواع چوب:

چوب در انواع زیر مورد استفاده قرار می گیرد:

1. الوار و چهارتراش(تخته)
2. تخته لایه (چند لایه ، پلی وود)
3. نیوپان
4. فیبر

---

بار های که لازم است در طراحی قالب مورد توجه قرار گیرند:

1. بار مرده
2. بار زنده
3. وزن بتن و ارماتور
4. فشار جانبی بتن

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



انواع قالب های فونداسیون

قالب فونداسیون می تواند به یکی از انواع زیر باشد:

1. قالب سنتی از تخته و چهارتراش
2. قالب با رویه چند لایی وپشت بند های چوبی، فلزی و الومینیومی
3. قالب فلزی

---

قالب های قایم قالب های هستند که از انها برای قالب بندی دیوار و ستون استفاده می شود.

اجزای قالب قایم (مثلا قالب دیوار) عبارتند از:

1. صفحه رویه (sheeting)
2. پشت بند قایم (stud)
3. پشت بند افقی یا کمرکش (wale)
4. بولت (tie)
5. وادار (brace)
6. فاصله دهنده (spreader)

---

اجزای قالب فونداسیون

اجزای اصلی قالب فونداسیون به شرح زیر می باشد:

1. رویه
2. پشت بند
3. وادار
4. فاصله د هنده (سیم)

---

قالب ستون همانند قالب دیوار در رده قالب های قایم است لذا هما نند ان می تواند دارای انواع زیر باشد:

1. قالب سنتی
2. قالب پانلی
3. قالب یکپارچه
4. قالب بالا رونده
5. قالب لغزنده

- قالب خشتی.
- قالب چوبی.
- قالب فلزی.
- قالب ازمواد کیمیاوی (فایبر گیلاس – پلی ایتلین وغیره.)
- قالب های رونده ویا لغزنده.

---

انواع مختلف جک های مورد استفاده در قالب های لغزنده عبارتند از:

1. هیدرولیکی
2. هوایی فشرده
3. الکتریکی
4. دستی

---

قالب های مورد استفاده در پل بتن ارمه شامل موارد زیر می باشد:

قالب فونداسیون ، قالب ستون ، قالب تیر سرستون ، قالب های عرشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مختلفو غړو د پاره د قالبونو د خلاصیدو لږ تر لږ او معمول وختونه:

| د غړو ډولونه | د قالب د لرې کولو لږ وخت | د قالبونو د لرې کولو معمول وخت |
|---|---|---|
| Columns | 3Days | 3Days |
| Slab | 5Days | 10Days |
| Beam | 5Days | 14Days |
| ګاډرونه چې اوږدوالی ئی له 6m څخه تر 9m پورې وی قالبونه وروسته له 21 ورځو لیرې کیږی او که چیرې له 9m څخه زیات وی قالبونه ئی وروسته له 28 ورځو جلا کیږی . | | |




**د ستنډرد کانکریټو فشاري نمونه**

**د ډیزاین د پاره ډیري طریقی شته خو دغه دوه پکی زیات استعمال لري.**

WSD (working stress method)   د تشنجاتو د کاریدنی طریقه:

$$F_{service} \leq F_{allowed}$$

**F**service: د کتي اخستني یا خدمت کولو د شرایطو لاندي اعظمي تشنجات دی

**F**allowed: مجازي تشنجات دی چی د کتي اخستني یا خدمت کولو د شرایطو لاندی د اوسپنز کانکریټو له پاره د کوډ پواسطه مشخصیږي

LRFD (load and resistance factors design method):  د بار او مقاومت فکتورونو د محاسبي طریقه

$$\emptyset Rn \geq U$$

$\emptyset Rn$: د ظرفیت یا مقاومت د کمیدني ضریب دی د نه اټکل شویو بارونو د څرنګوالی د پاره کاریږي.

U: د نهائي یا اعظمي عاملو او وارده بار دی.

نو ټ : دا طریقه وائي چی داخلی مقاومت باید د خارجی مقاومت څخه زیات وی .

**د ستنو (پایو) ډولونه:**

**1- Based on reinforcements  نظر سیخانو ته کالم:**
a. Tied column   تړی ستني
b. Spiral column   مارپیچي ستني
c. Composite column   مرکب ستني

**2- Based on shop  :  نظر شکل ته کالم**
a. Rectangular column   مستطیلي ستني
b. Square column   مربعي ستني

(c) ketabton.com: The Digital Library



c. Circular column دايروي ستني
**3- Based on loads: نظر بار ته ستني**
a. Concentric column هيچ نواع مومنټ نه لري فقط نارملی فشاري قوه پري عمل کوی
b. Uniaxial column چی په يو محور کی مومنټ ولري
c. Biaxial column چی په دوه محورونو کی مومنټ ولري
**4- Based on length : نظر وائي ته کالم**
a. Short column هغه پائي ده چی مقاومت ئي د موادو او د عرضي مقطع د هندسي شکل پواسطه کنټروليږي
b. Slender column د زيات اوږدوالي له اثره پکی د اړخی کوږوالي(بکالنګ) منځ ته راځي

---

**د رڼا سټنډرد اندازي:**

- ✓ Living room = 350 lux
- ✓ Toilet, shower, latrine, wash room, corridor and stair way, dining area = 200 lux
- ✓ Mechanical, electrical room, office(open), conference room = 300 lux
- ✓ Office(private), video conference = 500 lux
- ✓ Kitchen(commercial) = 700 lux
- ✓ Library = 300 – 500 lux
- ✓ Auditorium(social) = 50 lux
- ✓ Auditorium(assembly) = 10 lux

---

**د ګروپونو د تعداد د معلومولو فرمول:**

$$No\ of\ Light = \frac{E.A.M_f}{{}^{lumen}/_{lamp} \cdot {}^{lamp}/_{unit} \cdot U_z}$$

E = light intensity (Lux)

A = area ($m^2$)

$M_f$ = maintenance factor (- 1.2)

$U_z$ = utilization factor (- 0.55)

---

Example:

Dining room =?

L= 8m

W= 5m

E= 200 Lux

$\frac{lumen}{lamp} = 3000$

N/ light =?

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$N/L = \frac{200 * (8 * 5) * 1.2}{3000 * 1 * 0.55} = 5.8 \approx 6\ lights$$

يعني شپږ پنځوس واټه ګروپو ته ضرورت دی 3000/60=50 watt

6*50 = 300 watt: يعني مجموعا 300 watt برق ته ضرورت شته تر څو اطاق په ښه ډول رڼا شي. اوس موږ کولای شو چی 3 دانی 100 watt ګروپونه استعمال کړو او یا یوه دانه 300 watt ګروپ استعمال کړو.

---

د موقعيت له لخاظه فرشونه په کومو ډولونو ويشل شوی معرفی کړي؟ په دری ډولونو

1- Ground floor
2- Suspended floor
3- Basement floor

د ځمکی په سطحه د فرشونو ډولونه ولیکي ؟

هغه فرشونه چه د ځمکی په مخ جوړیږي او د مختلفو تعميراتو د پاره ورڅخه استفاده کیږي هغه دادي..........

خټو فرشونه، خښتي فرشونه، کاشي فرشونه، د ډبرو فرشونه، سیمنټي فرشونه، تراځوي فرشونه، موزائیک فرشونه، لرګین فرشونه، لینولم فرشونه(یو ډول پلاستکی ټوکر دی)، رابري فرشونه، د نرمو لرګیو فرشونه، اسفالټي فرشونه، شیشائي فرشونه او پي وي سي(PVC) فرشونه

---

Floor او Roof څه ته وایي او د لرګیو د پوښښونو عمده نواقص ولیکي؟

Floor فرش ته وایي او Roof چت ته وایي او همدارنګه د لرګیو نواقص دا دی چی لرګی باید وچ وساتل شی او رطوبت یی د 20% څخه زیات نه شی او د مخصوصو رنګونو پواسطه رنګ کړی شی او همدارنګه د حریق په مقابل کی هم مقاومت نه لري

---

د اهن کانکریټو پوښښونو مثبتي او منفي جنبي وليکي؟

**مثبتي جنبي:** الف: لوړ مقاومت لري. ب: اور په مقابل کی زیات مقاومت لري. ج: رطوبت او مضره حشراتو پواسطه نه خرابیږي.

**منفي جنبي:** الف: زیات وزن لري. ب: حرارت زیات انتقالوي.

---

د تعميراتو د پاره د زلزلی ضد مهندسي تدابير وليکي؟

1- زلزلي ضد مهندسي تدابير
   - ✓ د تعميراتو پلان ساده، مربع او يا مستطيل شکل ولري.
   - ✓ د تعميراتو طول د نورماتيفي حدودو څخه زيات نه وی.
   - ✓ د تعميراتو ارتفاعات په نظر کی نيول دی.
2- د زلزلي ضد محاسبوي تدابير

---

د ټولني د ضرورت د رفعه کولو په خاطر وداني په دوه ډوله دسته بندي شوي دی.

1- مدني وداني
   - ✓ مسکوني وداني
     الف: کرکاسی وداني
     ب: غير کرکاسی وداني

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ عامه وداني
- 2- صنعتي وداني

---

د عامه ودانيو د اماکنو د ضرورت وړ مساحتونه د نورم له مخې:

1- کنفرانس او سينما په صالون کی د يو نفر د پاره $m^2$ (0.8→1) پوري ځای ورکول کيږي.
2- رستورانت او د مطالعي صالون کی د يو نفر د پاره $m^2$ (1→1.5)
3- په ښوونځيو او لوړو تحصيلاتو په صنف کی د يو نفر د پاره $m^2$ (1.25→1.5)
4- د مهندسينو اطاق کی د فی نفر د پاره $5m^2$ پوري ځای ورکول کيږي.
5- د اداري دفترونو کی د فی نفر مامور د پاره $(3→3.5)m^2$
6- په دهليزونو او زينو کی چی خلک منظم حرکت کوی د فی نفر د پاره $m^2$ (0.5→0.6)
7- شفاخانو کی د فی نفر مريض د پاره $m^2$ (6.5→7)

---

کله چی مونږ سيمنټ ذخيره کوو نو بايد د سيمنتو بوجی د ځمکي څخه 10cm لوړه وی يعني ارتفاع ولري او په هر قطار کی بايد د (12—10) بوجيو څخه زياتي اينودو ته اجازه نشته.

**د کانکريټو خواص:** اول = مقاومت    دوهم = د کانکريټو دوام    دريم = دکانکريټوکاری قابليت

---

کله چی کانکريټو کی د اوبو فيصدي زياتيږي نو دده مارک ضعيفه کيږي نو چی مارک ئي ضعيفه شو نو مقاومت ئي کميږي او همدارنګه د کانکريټ ريزي په وخت کی بايد د هوا درجه (°25 c—20) پوري وی.

---

**سولنګ(soling) چيست؟**

وقتيکه زير تهداب نرم وخراب باشد قبل از ريختن کانکريټ تهداب يک لايه خشت بدون مصاله و يا سنګ فرش ميشود وبعد بالای ان کانکريټ ريخته ميشود که همين فرش بنام سولنګ يا د ميګردد

---

سوال:په سلبونو کی د سيخ اغظمي او ماصغري فاصله څومره ده ؟

د سيخانو تر منځ اعظمي 20cm او اصغري فاصله ئي 1.5cm ده.

عموما په سلبونو او پايو کی د 200M او 250M مارکه کانکريټو څخه استفاده کيږي او په فرشونو کی د 150M مارکه کانکريټو څخه استفاده کيږي.

سوال: cycle of project يا دوران عمومي کار يک پروژه را نام بګيريد؟

پلان، سروي، نقشه، ډيزاين، براورد، تطبيق پروژه او تسليمي پروژه.

سوال: زلزله په تعمير باندی څو قيسمه قوي واردوي او ساختمان په کومه برخه باندي عمل کوي.

زلزله په تعمير باندي دوه قيسمه قوي واردوی عمودي او افقي او په ګاډر او پايو باندي عمل کوی.

سوال: په ساختمان کی حرارتي درز د څه په خاطر ورکول کيږي؟

نوموړی درز د انقباض او انبساط په خاطر ورکول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال: خنثی محور( neutral axis (NA په ګادر کی څه شی دی ؟




سوال: د ساحوي انجینر وظیفه څه شی ده؟

د پلان شوي نقشي تطبیق او ددي د کارونو څخه راپور ورکول دی مربوطه اداري ته

سوال: کله چی خط اندازي کوو او یو کنج په 90° باندی جوړه وه نو د کوم فورمول څخه استفاده کیږي؟

د فثاغورث د قیضي له مخی ...... $r^2 = a^2 + b^2$

سوال: مارک څه شی دی؟

د محکمیت حد دی د فشار په مقابل کی .

کانکریټ د فشاري قواو په مقابل کی زیات مقاومت لري او سیخ د کششي قواو په مقابل کی زیات مقاومت لري.

سوال: په یو سلب کی د سیخانو ترمنځ فاصله د څه شی تابع ده؟

د سیخانو د قطر تابع ده.

سوال: یو متر مکعب کانکریټ څومره اوبو ته ضرورت لري؟

تقریبا litter(165---177) پوري .

سوال: ګڑدمک دکومي قوي په مقابل کی عمل تر سره کوی ؟

د عرضي قوي په مقابل کی .

سوال: ساختماني مواد په څو قیسمه دی؟

په دوه قیسمه دی او ل ......طبعي او دوهم.......مصنوعي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال: دکانکریټو په مخلوطو کی اوبه څه وظیفه لري؟

1- دکانکریټو لمدول
2- کاري قابليت ورکول
3- په سيمنټو کی کيمياوی عمل چټک کول

سوال: په هغه مناطقو کی چی ريګ ولري څه قيسم تهداب بايد جوړ شی؟

ميخي تهداب

سوال: مخکي ددي چي يو پلان په ساحه کی تطبيق شی څه بايد وکړل شی؟

د ساحی پاک کاري، د خاوري ټيسټ، هموار کاري ساحه

سوال: مساحت تهداب ها تابع چيست؟

مقاومت نورماتيفي خاک

سوال: په پايه او ګاډر کی څومره سيخان لګيږي او هم په يو متر مربع سلب کی څومره سيخان پکاردی؟

په بيم او پائي کی څلور داني سيخان بايد استعمال شی او همدارنګه په نوموړيو پايو او بيمانو کی د 16mm څخه کم قطر لرونکی سيخان استعمال نشی. او حداقل په سلب کی پنځه داني سيخان واچول شی چی پدی کی د 3# او 4# نمبره سيخان استعماليږي.

سوال: د کانکريټو په مخلوط کی اوبه د څه شی تابع دی؟

دکانکريټو د مارک تابع دی.

سوال: به طور عموم ميل به چند نوع است نام ګرفته وميل مجاز سرک در کوتل ها، تپه ها و بلندي ها چند فيصد محاسبه می ګردد؟

به طور عموم چهار نوع ميل وجود دارد که عبارتند از .......

1- ميل نشيبي (ښکتني)
2- ميل بلندي (برني)
3- ميل طولي (اوږد والي)
4- ميل عرضي (پلنوالي)

ميل مجاز سرک در کوتل ها، تپه ها و بلندي ها حداقل 3% و حد اعظمي 7% می باشد.

سوال: د اکسل لوډ مجازي حد په سرکونو باندي څومره محاسبه کيږي؟

6- د کار د کميت او کيفيت کنترول
7- د کار د پرمختګ په خاطر تخنيکي راپور تر تيبول

سوال:- : د ودانيو حرارتي ضايعات په څو طريقو تر سره کيږي؟

جواب:-حرارتي ضايعات د ديوالونو،چت،فرش،کړکيو او دروازو له لياري تر سره کيږياو هم د هوآ د نفوذ له لياري

سوال:- فاصله بين گره هاي شبکه هاي خارجي آبرساني در حدود چند متر در نظر گرفته ميشود؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جواب:-فاصله بین گره ها در حدود 500 الي 1500 متر در نظر گرفته میشود.

سوال:- : د هایدرولیکي ضرباتو د د فع په خاطر د اوبه رسوني په نلونو کي کوم تدبیر په پام کي نیسو؟

جواب:- د مختلف النوع چک والونو څخه استفاده کوو

سوال:- :د میخانیکي تصفیې د اساسي ساختمانونو نومونه واخلئ؟

جواب:-د میخانیکي تصفیې اساسي عناصر عبارت دي له:پنجرو،چرب گیرها او ترسبگاه

سوال:- : د فاضله اوبو د تحلیل او تجزیې لپاره مونږ له کومو طریقو څخه کار اخیستلی شو؟

طریقه تصفیه کیمیاوي ,طریقه تصفیه بیولوژیکي ,طریقه تصفیه میخانیکي

سوال:- : ساختمانها از نظر میزان تردد جمعیت به چند دسته طبقه بندي گردیده است؟

جواب:-ترافیك سبك بدون زمان پیك ,ترافیك متوسط مانند استفاده کننده گان منازل رهایشي ,ترافیك سنگین

ترافیك خاص مانند کلینك ها ، شفاخانه ها و پوهنتون ها و غیره

سوال:- : د فابریکوي او یوریخت اوسپنیزکانکریتي عناصرو تر منځ توپیر واضح کړئ؟

فابریکوي عناصر مخکي له مخکي په ساحه کي په معلومو اندازو ترتیب او جوړیږي او په ساختماني ساحه کي یې فقط منتاژ صورت نیسي،مګر د یوریخت عناصرو لپاره په ساحه کي قالبونه تړل کیږي چي له سیخبندی وروسته ورته په معین مارک کانکریټ تیاریږي او بیا ډکیږي

سوال:- : په یو اوسپنیزکانکریتي پایي کي د ګژدمکونو دنده کومه یوه ده،تشریح یې کړئ؟

جواب :- د عرضي قواوو په مقابل کي مقاومت ,د طولي سیخانو ساتل په معین موقعیت کي

د زلزلې په جریان کي د کانکریتي هستي ساتنه

سوال:- : په حلقوي پوښښونو کي څو نوعه مومنتونه مونږ محاسبه کوو؟

دوه ډوله: انحنایي شعاعي او انحنایي محیطي

سوال:- :د یو نفر لپاره د کانالیزاسیون نورم په افغانستان کي څومره دی؟

0.008 مترمکعب د یوه شخص لپاره

سوال:- : څو ډوله د اوبو تصفیه پیژنئ؟

دوه ډوله:بیالوژیکي تصفیه او کیمیاوي تصفیه

سوال:- :د سپتیک څاه ژوروالی نظر کوم فکتور ته تعینیږي؟

نظر د کانالیزیسیون نورم ته چي د یوه نفر د في شبانه روز لمخي تعین شوی وي

**د رنګمالی براورد**

د رنګمالی براورد عموماً د متر مربع (M2) او یا هم فټ مربع (Ft2)په اساس ترسره کیږي، مونږ د رنګ دوه ډوله سټندرد ګیلنونه (Gallons)لرو، چي عبارت دي له

د :Uk Gallon ددې ډول ګیلنونو حجم 4.54 لیتره وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د US Gallon: چي ددي ډول ګيلنونو حجم 3.785 ليتره وي
يو UK Gallon د 200 ft2مربع نوی سطحي د رنګولو لپاره کفايت کوي
مګر که ساحه يو ځل پخوا رنګ شوي وي، او وغواړو چي دوباره يي ترميم(بيا ځلي) رنګمالي کړو، نو بيا يو ګيلن رنګ د 350 ft2 سطحي د رنګولو لپاره کفايت کوي
مثال : يو ديوال چي پخوانی رنګ يي له کاره لويدلی غواړو چي دوباره يي رنګمالي کړو تاسي ورته د ضرورت وړ مقدار رنګ محاسبه کړئ،په هغه صورت کي چي د ديوال طول 60 فوټه او لوړوالی يې 11 فوټه وي؟
حل: لومړی دديوال مساحت پيداکوو

Area of wall = L × h

Area of wall = 60 Ft × 11 Ft

Area of wall = 660 Ft2

د بلي خوا لرو چي

1 UK Gallon Cover = 350 Ft2

نو لرو چي

660 Ft2 / 350 Ft2 = 1.88 Gallons

ليدل کيږي چي 1.88 ګيلنه رنګ ته ضرورت دی، چي کولی شو دوه ګيلنه يي هم په پام کي ونيسو

**د سطحي يا مساحت په اړه لنډ او ګټور معلومات:**(Brief Information About Area)

**هکتار :(Hectare)**

1هکتار مساوي ده په 5 جريبه
1هکتار مساوی ده په 2.471 ايکره
1هکتار مساوي ده په 100 بسوې
1هکتار مساوي ده په 2000 بسواسي
1هکتار مساوي ده په 10000 متر مربع

**جريب :(Jirib)**

1جريب مساوي ده په 20 بسوې
1جريب مساوی ده په 400 بسواسي
1جريب مساوي ده په 2000 متر مربع

بسوه :(Biswa)

1بسوه مساوي ده په 20 بسواسي
1بسوه مساوي ده په 100 متر مربع

**بسواسه :(Biswasa)**

1بسواسه مساوي ده په 5 مترمربع

**در مجموع سه نوع گادر را ميتوانيم در ستركچر تعمير كار بگيريم :**

1- گادر آويزان(dropped beam): كه براي رفع كردن وايه هاي يا فاصله هاي كم معمولا الي 8 متر طول استفاده ميشود و اگر طول زيادتر شود بلندي اين گادر هم نظر به فارمولهاي ديزاين ستركچر زياد ميشود.

2- گادر چپه(beam Inverted): كه براي رفع كردن وايه هاي كلان يا طولهاي زياد در چت ها استفاده ميشود, و چون بلندي آن طرف بالاي چت است لذا مانع گشت و گذار ميشود به همين خاطر در چت هاي بامها استفاده ميشود و ,در بام هم بايد بالاي آن قيچي پوش شود و آهن چادر گرفته شود تا آب باران در بين حوضچه هاي ميان گادرهاجمع نشود.

3- گادر مغزي(hidden beam): كه هم ارتفاع چت انداخته ميشود .
در صورتيكه در كدام قسمت چت ديوار كار ميشد كه گادر تعمير زير آن نباشد, بايد بيم مغزي در زير همان قسمت ديوار در چت انداخته شود.
و همچنان بيم مغزي در صورتيكه وايه يا طول سلب (چت) زياد باشد بخاطر احتياط از لرزه كردن چت انداخته ميشود, و بيم مغزي هم توسط فورمول محاسبه ميشود, تخميني نبايد انداخته شود

(c) ketabton.com: The Digital Library






**مراحل بازرسی و نظارت از کار تهداب های آّهن کانکریتی**

1. لیول نمودن سطح PCC کف تهداب مطابق عمق دیزاین شده تهداب
2. کنترول اندازه های قالب تهداب ( طول، عرض و عمق) مطابق اندازه های مهندسی و استرکچر
3. مطمین شدن از عدم شکستگی ویا سوراخ در قالب بندی که سبب حدر رفتن شیره کانکریت نگردد
4. سنتر نمودن تهداب ها ویا کنترول فاصله های تهداب ها از همدیگر مطابق نقشه ها
5. پاک بودن قالب ها از مواد اضافی مانند خاک، گل و لای و غیره
6. تعیین عمق موثر ویا ضخامت تهداب کانکریتی مطابق نقشه های استرکچر
7. مطمین شدن از محکم کاری قالب های تهداب و برداشت بار مخلوط کانکریت هنگام کانکریت ریزی
8. آماده بودن قالب برای سیخ بندی مانند پاکی و محکمیت آن
9. کنترل قطر ، تعداد و موقعیت سیخ های تهداب مطابق نقشه های استرکچر
10. استفاده اسپیسر برای قشر محافظوی تحتانی و جانبی تهداب آهن کانکریتی
11. اطمنان از گرید مخلوط کانکریت مطابق مشخصات تعین شده
12. استفاده از ویبراتور هنگام کانریت ریزی
13. کانکریت ریزی تهداب مطابق مقررات کانکریت ریزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



14. مراقبت و مرطوب نگهداشتن تهداب بعد از کانکریت ریزی مطابق مقررات ساختمانی




**هغه ترټولو اړین ټکي چې د ساحې انجینر یې باید پام کې یې ونیسي .**

1. هغه سیخان چې قطر یې له 36mm زیات وي پیوند کولو اجازه یې نشته .
2. د نبلونکی یا ډاول سیخ قطر باید لږترلږه 12mm وي .
3. په تهداب کي د کانکریټو په هر مترمکعب د سیخانو اندازه 56kg څخه تر 89kg پورې وي
4. په پایو کي د کانکریټو په مترمکعب کي د سیخانو اندازه 115kg تر 144kg پور وي او د سیخانو مساحت د پایي د عمومي مقطعې د مساحت له 0.8% کم نه وي او له 6% زیات نه وي.
5. د بیم د وایي اوږدوالی باید د بیم پلنوالی ضرب 60 یا (b60) څخه زیات نه شي
6. په بیم کي د کانکریټو په هر مترمکعب کي د سیخانو اندازه د 108kg تر 125kg.
7. د مربعوي پایو د سیخانو شمیر له څلورو او د دایروي پایو له شپږو کم نه وي .
8. په سلب کي د کانکریټو په هر مترمکعب کي د سیخانو اندازه 56kg تر 89kg پورې وي .
9. د سلب ترټولو کم پیروالی 125mm دی .

10. وي او ویشونکو سیخانو قطر له mm8 کم نه وي او د سلب د پیروالی له 8/1 زیات نه وي .
11. د مکعبونو په اندازو کي توپیر 2mm - + پورې د منلو دی .
12. د کانکریټو راغورځیدو ترټولو زیات لوړوالی 1.5m دی له دې زیات د منلو نه دی .
13. د خبنتو د جذب د اوبو جذب د هغې د تول وزن له 15% زیات نه وي .
14. په کانکریټو کي د کاریدونکو اوبو pH قیمت د 6 او 8 ترمنځ وي ،هیڅ ډول غوړ ،تیزاب ،الکلي ، عضوي مواد ،مالګه ،او نوري ناپاکی ونه لري .
15. د خبنتو فشاري مقاومت23.5 N/mm
16. د هرمتریک ټن سیخانو د تړلو لپاره 8kg بلډنګ ویر ته ضروت وي .
17. د ډکون خاوري د ازمایښت لپاره په هرو 100 متر مربع کي باید درې نمونې واخستل شي .
18. په پایو کي باید د برېښنا د لینونو پایپونه تیر نه شي .
19. د تهکوی کندن کاري چې له 3m زیاتیږي باید د پتو په شکل ترسره شي .
20. که د خاوري ډکون پام کي وي نو باید تر 95% وچ حجمي کثافت پورې تخته شي .د هري تخته کوونکي طبقي پیروالی له 20cm زیات نه شی .
21. که د کانکریټو اچولو مقدار زیات وي د هرو 30 مترمکعب کانکریټو لپاره باید د مکعبي نمونو ازمایښت ترسره شي .د هر لیول لپآره او د هري پیماني لپاره .
22. د بیلابیل مارک کانکریټو د اوبو او سیمنټو نسبت باید د M20 او پورته لپاره له 0.45 او د M10/M15 لپاره له 0.50 زیاته نه شي.
23. د M20 او له پورته مارک کانکریټو لپاره باید منظور شوي او ډیزاین سره سم علاوه کوونکي مرکبونه (admixture) وکارول شي .
24. سیمنټ باید له ځمکي له سطحي 20cm پورته په وچ ځای کي ګودام شي .د بوجیو کتار باید سرپه سر له 10 زیات نه شي .د بره لمبل د مخنیوي لپاره ځای سرپوخ ولري ،د لمر او لمدبل څخه خوندي وساتل شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



25. د کانکریټو د فشاري مقاومت مالومولو لپاره لړترلږه د تازه کانکریټو 6 نموني واخستل شي چې 150mm ابعاد ولري .دري نموني د 7 ورځو لپاره او 3 د 28 ورځو لپاره ضرور ازمايښت شي .د ازمايښت بايد چک شي که د قناعت وړ نه وي بايد اړين ګامونه پورته شي .

26. سيمنټ بايد د ابتدايي جوش يا نښتو (لومړی نيم ساعت )او هم د وروستی جوش يا نښتو (final setting)لپاره چک شي ،چې ورستی بايد له ساعته زيات نه وي .

27. پومتر د سيخانو وزن قطر مربع تقسيم 162

28. د کانکريټ اوبه ورکولو ته ډير پام وشي که عادي پورټلنډ سيمنټ کارول شوي وي 14-28 ورځو پوري اوبه ورکول شي .که سوپر سلفايټ سيمنټ کارول شوي بايد لږترلږه 7 ورځې اوبه ورکول شي .

29. د سيخانو لپاره د کانکريټو محافظوي قشر ، د تهداب لپاره 50mm ،د د بيم لپاره 25mm ،د شيروال لپاره 25mm ،د سلب لپاره 20mm ،د پايې لپاره 40mm ،د خاورې لپاره استنادي ديوال 20-25mm ، د اوبو لپآره استنادي ديوال 20-30mm ، د چجې لپاره 25mm.

30. د کانکريټ جوړولو پروخت په مکسر ماشين کې بايد کانکريټ لږترلږه يوه دقيقه او زيات نه زيات درې دقيقې وخت پرېښودل شي .





(c) ketabton.com: The Digital Library






# اسلامیات

**د لمونځ تعریف:** د صلوة لغوي معنا یو لوري ته مخ ګرځول، مخکې تلل، دعاء کول، او نږدې کیدل دي په قرانکریم کې چې د صلوت لفظ ذکر شوي هدف تري د الله ج لوري ته متوجه کیدل، د هغه لوري ته ورتلل، له هغه څخه د دعاء او رحمت غوښتنه او د هغه په وړاندي تواضع او عاجزي کول دي. د اسلامي شریعت په اصطلاح کې لمونځ هغه بدني عبادت دي چې په ځانګړو افعالو او اقوالو مشتمل، په تکبیر تحریمه پیل او په سلام سره پاي ته رسیږي.

## په اسلام کې د لمانځه اهمیت:

د قران او سنت د مطالعي په نتیجه کې موږ د لمانځه پر اهمیت ښه پوهیدلاي شو ددغو ایاتونو او احادیثو خلاصه په لاندي ډول ده.

- ✓ له ایمان څخه وروسته د اسلام دویمه اساسي رکن لونځ دي
- ✓ الله ج سره د اړیکو د ټینګښت تر ټولو ستره وسیله لمونځ دي
- ✓ لمونځ د مسلمان سره د مشکلاتو او تکالیفو په حلولو کې مرسته کوي
- ✓ لمونځ د پخواینو سترو پیغمبرانو دنده ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ زمونږ پيغمبر محمد ص ته هم د الله ج لخوا د لمانځه حکم شويدي
- ✓ لمونځ پرېښودل انسان د جهنم مستحق ګرځوي
- ✓ اسلام لمونځ پرېښودلو ته په ميدان کې هم مسلمانانو ته په جماعت سره لمونځ کولو امر شوي دي
- ✓ د ايمان له راوړلو وروسته مسلمان څخه دويمه غوښتنه داده چې لمونځ له خپلو شرطونو او ادابو سره اداء کړي
- ✓ د کافر او مومن ترمنځ حقيقي توپير په لمانځه سره ښودل شوي دي
- ✓ د قيامت په ورځ به تر هر څه مخکې د لمانځه په اړه پوښتنه کيږي
- ✓ د لمانځه فرضيت عمومي دي لمونځ د نورو عباداتو په څير نه دي چې پر ځينو اشخاصو فرض وي او پر

## د لمانځه سنتونه:

فرايضو او واجباتو ترڅنګ په لمانځه کې ځيني نور کارونه داسي دي چې رسول الله ص د لمانځه پر مهال په دوامداره توګه تر سره کړي دي. که څه هم د دغو کارونو نه ترسره کول د لمانځه د فساد او کراهيت سبب نه ګرځي خو اجر او ثواب څخه خالي نه وي او دغه سنت کارونه په لاندي ډول دي.

1- د تکبير تحريمه له ويلو د مخه غوږونو ته دواړو لاسونو پورته کول.
2- د لاسونو د پورته کولو پرمهال ګوتي خلاصي پرېښودل.
3- د تکبير تحريمه څخه وروسته د نارينه ؤ د پاره په نامه او د ښځو د پاره په سينه باندي لاسونه اېښودل.
4- ښي لاس په چپ د پاسه اېښودل.
5- د تکبير تحريمه ويلو پر وخت سر نه ټيټول.
6- د امام د پاره د تکبير تحريمه او ارکانو تکبيرونه لوړ اواز ويل.
7- سبحانک اللهم لوستل.
8- اعوذبالله لوستل.
9- په هر رکعت کې د سورت فاتحى نه مخکې په پټه توګه بسم الله لوستل.
10- د فاتحى د سورت په ختميدو سره امين ويل.
11- ثناء اعوذبالله او بسم الله په پټه توګه لوستل.
12- په رکوع او سجده کې لږ تر لږه دري ځله تسبح ويل.
13- په رکوع کې سر او ملا يو شان برابرساتل.
14- په قومه کې د امام د پاره (سمع الله لمن حمده) او د مقتدي (ربنالک الحمد) او يواځي لمونځ کونکو د پاره دواړو ويل.
15- سجدي ته تلو پر وخت لمړي زنګونه په ځمکه لګول بيا دواړو لاسونه بيا پزه او تندي لګول.
16- په جلسه او قاعده کې دواړه پښي په داسي شکل درول د ګوتو سرونه يې قبلي لوري ته برابر وي او دواړه لاسونه په زنګنونو اېښودل.
17- په وروستي قاعده کې د التحيات څخه وروسته درود شريف لوستل.
18- له درد شريف څخه وروسته ما ثوره دعاء لوستل.
19- لومړي ښي لوري او بيا چپ لوري ته سلام ګرځول.

## د لمانځه فرضونه:

په لمانځه کې دوه ډوله فرضونه شته اول خارجي فرضونه او دوهم داخلي فرضونه .

1. د لمانځه شرطونه يعنى خارجي فرضونه
   - ✓ طهارت
   - ✓ د بدن پاکوالي
   - ✓ د ځاي پاکوالي
   - ✓ د جامو پاکوالي
   - ✓ د وخت داخليدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ د عورت پټول

2. د لمانځه ارکان يعني د لمانځه داخلي فرضونه
- ✓ نيت
- ✓ تکبير تحريمه
- ✓ قيام
- ✓ قراءت
- ✓ رکوع
- ✓ سجده نوټ(وروستي قاعده فرض ده)

# د لمانځه مکرو وختونه

## د لمانځه مکرو وختونه په دري ډوله دي.

1- هغه وختونه چي هر ډول لمونځ کول پکي منع دي.
- ✓ د لمر د راختو پر مهال ترڅو چي رڼا يي ښه خپره شي
- ✓ د غرمي پر مهال چي لمر ولاړ وي ترڅو چي مايل شي
- ✓ د لمر د لويدو پر مهال

پدغه وختونو کي د تلاوت او د شکي سجده هم منع ده خو که جنازه راشي وروسته کول يي پکار نده

2- هغه وختونه چي هر ډول لمونځ پکي مکروه دي.
- ✓ کله چي د ډکو او تشو متيازو او د ګيدي د بادو د وتو اړتيا وي
- ✓ کله چي طعام مخي ته تيار ايښي وي

3- هغه وختونه چي يواځي نفل لمونځ کول په کي مکروه وي.
- ✓ د سهار له راختلو څخه تر لمر ختو پوري
- ✓ د مازيګر د لمانځه له اداء کولو وروسته د لمر تر لويدو پوري
- ✓ کله چي د لمانځه د پاره اقامت ويل کيږي
- ✓ د اخترونو د لمانځه څخه مخکی

**د سهوي سجده:** په کار کي خطاء کيدو ته سهوه ويل کيږي په لمانځه کي سهوه دا معنا لري چي له يوه يا څه په لمانځه کي کموالي او زياتوالي وشي ددغي کمي او زياتي د جبران د پاره په اخره قاعده کي له سلام ګرځولو وروسته دوه سجده کول عبارت د سهوي له سجدي څخه ده.

## سهوي د سجدي طريقه:

- ✓ په اخره قاعده کي تر تشهد پوري التحيات لوستل
- ✓ ښي لوري ته سلام ګرځول
- ✓ په اطمنان سره دوه سجدي کول
- ✓ له سجدي کولو وروسته د التحيات د پاره کيناستل تر اخره درود او دعاء په شمول د التحيات سره لوستل
- ✓ په اخره کي دواړو لورو ته سلام ګرځول

## د لمانځه احکام کوم دي:

- ✓ د لمانځه سنتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ د لمانځه مفسدات
- ✓ د لمانځه مکروه هات
- ✓ د لمانځه قضايي
- ✓ د جماعت لمونځ

## قضايي لمونځونه:

پخپل وخت د لمانځه ترسره کولو ته اداء او پاتي کيدو په صورت کي بل وخت د همدغه لمانځه راګرځولو ته قضاء ويل کيږي. د قضايي لمونځونو په هکله لاندي څو مسائل خورا مهم او ضروري دي.

- ✓ د فرض لمانځه قضايي راګرځول فرض د واجبو واجب ده
- ✓ که يو څوک نفل شروع کړي بيا يې پريږي د هغي قضايي راوړل هم لازم دي
- ✓ د سنتو قضايي نشته يواځي فرض راګرځول ګيږي خو د سهار سنت د فرضو سره يو ځاي د همدي ورځي د لمر تر زواله راګرځول کيږي او که له زواله څخه وروسته ماسپښين د لمانځه پرمهال يې راګرځوي نو يواځي فرض به راګرځوي.
- ✓ که يو څوک د سهار لمانځه ته پداسي حالت کي خاضر شی چي د سنتو کولو وخت نه وي (جمع ولاړه وي)نو بيا به سنت پريږدي خو دا چي د دغو سنتو په اداء کولو رسول الله ص ټينګار کړي دي کول يې ضروري او په دوه طريقو کيږي

الف: د لمر ختو څخه وروسته راګرځول

ب: د لمر راختو څخه مخکي راګرځول

- ✓ که له يوي ډلي خلکو څخه لمونځ قضاء شي په جمعي سره د هغی قضائي راوړلي شي
- ✓ که له چا څخه لمونځ قضاء شي او صاحب ترتيب نه وي هر وخت چي ور ياد شي او مکروه وخت نه وي راګرځولي شي
- ✓ له چا نه چي زيات لمونځونه د غفلت او ناپوهي په سبب پاتي شی معاف کيږي نه قضايي پري لازمه ده که ممکنه وي په يوه وخت کي يې هم راګرځولي شي

## د جماعت د لمانځه فضايل:

- ✓ د جماعت لمونځ له انفرادي لمانځه نه اوه ويشت درجي زيات اجر او ثواب لري
- ✓ د جماعت د لمانځه د پاره په تلو سره په هر يو قدم يوه ګناه معاف کيږي او يوه درجه لوړيږي

## د جماعت د لمانځه ګټي:

- ✓ مسلمانان راټوليږي او د بل احوالو نه خبريږي او همدارنګه د يو بل په درد کي شريک کيږي د روغ رانځور پوښتنه پکي کيږي نور زياتي ګټي لری په جماعت سر لمانځه کي د ورور ګلوي پياوړتيا او ټينګښت سبب کيږي

## د امامت شرطونه او اداب:

د اسلام د لاربنوونو په رڼا کي امام په اسلامي ټولنه کي لاربنود رهبر او مشر دي خلک هغه پسي روان وي رسمي او درستي لاري په لور يې رهبري کوي.

## د امامت شرطونه:

- ✓ امام بايد نقوه دار او پرهيزګار وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ د ټولني زيات شمير خلک به پري راضي وي
- ✓ پر خپلو مقتديانو به مهربانه او زړه سوانده وي

## د دري تنو لمونځ نه قبليږي:

- ✓ هغه سړی چې د خلکو امامت کوي او هغوي پري ناخوښ وي
- ✓ د هغي ښځي چې ميره تري خفه وي
- ✓ هغه دوه تنه چې يو له بله مرور وي

## د امامت اداب:

- ✓ که امام ته عذر پيښ شي نوبل امام ته به خپل ځاي پريږدي
- ✓ د امام بايد پوره اطاعت وشي
- ✓ د اشتباه او خطا پر وخت هغه ته يادونه وشي
- ✓ د ستري ګناه د ارتکاب په صورت کي بايد د هغه اطاعت ونه شي

## د جمعي لمونځ:

ابولبابه البدري (رض) روايت کوي چې رسول الله ص فرمايلي دي د جمعي ورځ د ټولو ورځو سرداره ده. د الله ج په نزد تر وړوکي او لوي اختر غوره ده دغه ورځ تر نورو ورځو پنځه ځانګړتياوي لري.

- ✓ الله ج په همدي ورځ ادم عليه السلام پيدا کړي دي
- ✓ په همدي ورځ يې وفات کړي دي
- ✓ په همدي ورځ يې ځمکي ته راليږلی دي
- ✓ په دغه ورځ کي داسي يو ساعت شته چې دعاء په کې خامخا قبليږي پدي شرط چې د حرامو غوښتنه يې نه وي کړي
- ✓ د قيامت ورځ به په همدي ورځ منځ ته راځي
- ✓ د الله ج مقربي ملايکي ، ځمکي اسمانونه غرونه بادونه او بحرونه د جمعي له ورځي متاثره دي او تاب يې نه شي راوړلاي

## دجمعي د لمانځه احکام : د اداء کولو حکم يې:

د قرانګريم او د نبوي احاديثو او د اسلامي امت د اجماع په رڼا کي د جمعي لمونځ فرض عين دي که څوک تري انکار وکړي کافر دي او که څوک يې د سستي او بې پروايي په سبب پريږدي فاسق ګڼل کيږي

## انتهائي عاجزي او توزيع ته عبادت ويل کيږي:

په عربي ژبدود کې عبديت عبوديت او عبارت مترادف الفاظ دي معنا يې يوه ده امر منلو ، اطاعت ، خدمت عاجزي او ځان ذليلو ته ويل کيږي.

امام ابن قيم رح د عبادت اصطلاحي معنا داسي کوي ....عبادت له هغه ډول انتهائي زاري عاجزي امر منلو او ذلت څخه عبارت دي چې د الله تعالي او د هغه د رسول سره د محبت په اساس ترسره شي.

..........................................................................................................................

## د طهارت معنا پاکي او له چټلي څخه خان سابل دي :

نجاست معنا ګندګي چټلي او ناپاکي ده چې د طهارت او پاکوالي ضد دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجاست په دوه ډوله دوي:

1) حقيقي نجاست : هغه محسوسه چټلي او ګندګي ده چي انسان ور څخه په طبعي ډول کرکه کوي خپل ځان جامه او د استعمال نور شيان ور څخه لري ساتي

الف : غليظه نجاست

- ✓ خوګ غوښه
- ✓ د انسان ډکي او تشی متيازي
- ✓ مني او مذي
- ✓ هغه وينه چي د حيوان د ذبحي پر مهال تويه شي په غوښه کي پاتي وينه پاکه ده
- ✓ کانګي
- ✓ د حيض او استحاض وينه
- ✓ د حرام ځاروي شيدي
- ✓ شراب او نور نشه لرونکی شيان
- ✓ دمار پوستکي

ب : حفيفه نجاست

- ✓ د آس تشي متيازي
- ✓ د هغو الوتکونکو متيازي چي خوراک يي حرام وی لکه کارغه، ټپس، باښه او نور....
- ✓ د حلالو ځارويو لکه غوا، ميښي، وزي ، ميږي تشي متيازي ......

نوټ : (د حقيقي نجاست د پاکوالي د پاره اسلامي شريعت دري شيان ښودلي دي اوبه، لمراو خاوره)

2) حکمي نجاست : د ناپاکي هغه حالت ته ويل کيږي چي چټلي يي په سترګو نه ښکاري خو شريعت نجس ګڼلي وي. لکه بي اودسي ، جنابت ، حيض او نفاس ....

حکمي نجاست په دوه ډوله دي.

الف: حدث اصغر (وړه بي اودسي)==> اودس کول د پاکوالي په خاطر

ب: حدث اکبر (غټه بي اودسي ) ==> غسل کول د پاکوالي په خاطر

اودس په کومو شيانو لازميږي ؟

هغه کارونه چي اودس پري ماتيږي هماغه کارونه اودس لازموي لکه د انسان له دوو لارو څخه دکوم شي وتل ، قي کول ، خوب کول او انور........

اودس کولو فضليت او غوره والي:-----> د اودسه په کولو سره واړه ګناهونه پريمنځل کيږي.

## د اودس کولو فرضونه په څلور ډوله دي:

- ✓ يو ځل د ټول مخ پريمنځل
- ✓ تر څنګلو پوري د دواړو لاسونو پريمنځل
- ✓ د سر د څلورمي برخي مسح کول
- ✓ تر خنګرکو پوري د پښو پريمنځل

## د اودس کول سنتونه ديارلس دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ نیت کول
- ✓ د بسم الله ویل
- ✓ تر مړوندونو پوري د دواړو لاسونو مینځل
- ✓ دري واري خوله مینځل
- ✓ مسواک وهل
- ✓ دري واري پوزي ته اوبه اچول
- ✓ د ګیري اخلالول
- ✓ د پښو او لاسونو د ګوتو اخلالول
- ✓ د ټول سر مسحه کول
- ✓ د سر په اوبو سره د دواړو غوږو مسح کول
- ✓ په ترتیب سره اودس کول
- ✓ لومړي ښي او بیا چپ لوري مینځل
- ✓ په یو غړي پسي سمدستي بل غړي پریمنځل

## لاندي چارو په تر سره کیدو سره اودس ماتیږي:

- ✓ د تشو او ډکو متیازو له لارو څخه د کوم شي وتل
- ✓ له بدن څخه پداسي شکل سره د ويني وتل چي له خپل ځاي څخه پاک ځاي ته حرکت وکړي
- ✓ په ډکه خوله کانګي کول
- ✓ په لیاړو کي په داسي شکل سره د ويني راتلل چي د ويني رنګ زیات وي
- ✓ بغیر له شهوت څخه د منیو وتل
- ✓ د ښځو له سینو څخه له شیدو پرته نور څه راوتل
- ✓ د ښځو څخه د استحاص وینه راتلل
- ✓ د مذیو او ودیو وتل
- ✓ په کومو شیانو سره چي غسل لازمیږي اودس پري حتماً ماتیږي
- ✓ په خوب کولو سره
- ✓ په بیهو شه کیدو سره
- ✓ د جنازي له لمانځه پرته په هر لمانځه کي په قهقه خندلو سره

---

**غسل :** په لغت کي د ټول بدن پریمنځلو ته ویل کیږي او د اسلامي شریعت په اصطلاح کي د شریعت د ښودل شوي طریقي سره سم د حکمي ناپاکي لري کولو او یا یوائې د ثواب حاصلوني په خاطر د ټول بدن مینځلو ته غسل ویل کیږي.

## د غسل فرضونه دري دي:

- ✓ د خولي پریمنځل په داسي طریقي سره چي ستونی هم ورسره لوند شي
- ✓ په پوزه کي اوبه اچول
- ✓ ټول بدن ته په داسي طریقي سره اوبه رسول چي د ویښته په اندازه ځاي هم پکي وچ پاتي نه شي

## د غسل سنتونه:

- ✓ نیت کول
- ✓ لمړی اودس کول
- ✓ دواړه لاسونه ترمړوندو پوري مینځل

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ مسواک وهل
- ✓ په ټول بدن دري واري اوبه تیرول

## غسل په دري ډوله ویشل کیږي:

- ✓ فرض (د لوي بی اودسی جنابت ، حیض او نفاض څخه د پاکي په خاطر غسل کول
- ✓ سنت (د اجر او ثواب په نیت غسل کول سنت دی لکه د جمعی د لمانځه او د اخترونو د لمانځه د پاره غسل کول)
- ✓ مباح (له بدن څخه د خیرو پاکولو او یا په گرمي کي د بدن د یخولو پاره غسل کول مباح دي)

**تیمم:** په لغت کي قصد ارادي او عزم ته ویل کیږي او د اسلامي فقي په اصطلاح کي له حکمي نجاست څخه د پاکوالي په نیت پاکي خاوري ته قصد کول دی.

## د تیمم د روا والي صورتونه:

- ✓ چې د اوبو میندلو هیله ختمه شي یا د یو میل په اندازه لری و ی
- ✓ د اوبو په خوا کي د ښمن یا کوم ضرري حیوان وی
- ✓ د کوهی دسی یا بوکه نه وي
- ✓ که ښځه په کور کي وی له کوره په وتلو او اوبو راوړلو کي د هغی د عزت ابرو په خطر کي وي
- ✓ اوبه وي خو د څښلو یا د پخلي د پاره ایله بس کیږي
- ✓ اوبه وی خو د صحت د پاره یقیناً ضرر رسوي یا ورسره مرض زیاتیږي
- ✓ اوبه وی خو د ضرورت مند د پاره په گران قیمت ورکول کیږي یا ورسره د اخستلو وس او توان نه وی
- ✓ که څوک په ریل جهاز یا بل کوم شی کی سفر کوی او هغه روان وی نه ودریږي او په هغی کی اوبه هم نه منیدل کیږي یا اودس کول ممکن نه وی

## د تیمم فرضونه:

- ✓ د الله ج د رضا د پاره له حکمی نجاست څخه د پاکیدو نیت کول
- ✓ دواړه لاسونه په خاوره وهل او په ټول مخ یې راګرځول
- ✓ بیا لاسونه په خاوره وهل د څنګلو په شمول یې په دواړه لاسونه راګرځول

ټول هغه شیان چې د خاوري له جنسه دی تیمم پري کیږي لکه رانجه، چونه، خښته، مرمر او نور

او که د خاوري له جنسه نه وي او په اور کي سوزي او ایزه کیږي لکه لرګي اوسپنه سکاره فلزات کاغذ نیلون ایره او پلاستکي شیان او نور......

---

کله چي له دیني عباداتو یادونه کیږي هدف ترینه د دین هغه اصول بنستونه او اساسات دی چې دین پري ولاړ وی ټاکلی وختونه ولري او د ځانګړو شرایطو په نظر کي نیولو سره ادا کیږی دغه عبادات عبارت دی له لمونځ، روژه، زکات او حج څخه دغه عبادات پر مخکینیو امتونو هم لازم ګرځول شوي ؤ

د لمونځ د پاره په اسلامي شریعت په اصطلاح کي د صلوةّ په لفظ سره ذکر شوي دي د صلوت لغوي معنا یو لوري ته مخ ګرځول ، مخکي تلل دعا کول او نږدی کیدل دی په قرانکریم کي چې د صلوةّ لفظ ذکر شوي هدف تري د الله ج لوري ته متوجه کیدل د هغه لوری ته ورتلل له هغه څخه د دعا او رحمت غوښتنه او د هغه په وړاندي تواضع او عاجز ي کول دی د اسلامي شریعت په اصطلاح کي لمونځ هغه بدني عبادت دی چې په ځانګړو افعالو او اقوالو مشتمل په تکبیر تحریمه پیل او په سلام سره پاي ته رسیږي او دا هغه عبادت دی چې د شرایطو او ارکانو تعلیم یې قرانکریم ورکړي دي او تفصیلي طریقه یې رسول الله ص پې وینا او عمل سره ښودلي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په اسلام کې د لمانځه اهمیت:** د قران او سنت د مطالعي په نتیجه کې مونږ د لمانځه پر اهمیت ښه پوهیدلاي شو د دغو ایاتونو او احادیثو خلاصه په لاندي ډول ده ...

- ✓ له ایمان څخه وروسته د اسلام دویم اساسي رکن لمونځ دی
- ✓ الله تعالی سره د اړیکو د ټګبنت تر ټولو ستره وسیله لمونځ دي

## د لمانځه فضایل ګټي او حکمتونه:

د لمانځه فضایل:

- ✓ لمونځ د الله ج سره مناجات او خبري کول دی
- ✓ د لمانځه په ذریعه د انسان ګناهونه معاف کیږي
- ✓ په پابندي سره لمونځ ادا کول انسان د صالحانو او شهیدانو درجي ته رسوي

د لمانځه ګټي او حکمتونه: (د لمانځه فردي ګټي)

- ✓ لمونځ د انسان د نفس د پاکوالي او تزکیبي وسیله ده
- ✓ په لمانځه سره د انسان ظاهري وجود پاکیږي
- ✓ لمونځ د انسان د بدن د غړو د قوت وسیله ده
- ✓ لمونځ مؤمن سره د مشکلاتو په حل کې مرسته کوي
- ✓ د لمونځ د انسان اخلاقي قوت پیاوړي کوي
- ✓ لمونځ په انسان کې د بندګي احساس پیدا کوی

## د جمعی د لمونځ فرضیت شرطونه:

- ✓ عقل ( پر لیونی فرض نه دی)
- ✓ بلوغ ( پر کوچني فرض نه دی )
- ✓ نارینتوب ( پر ښځو فرض نه دی)
- ✓ مقیم والي ( پر مسافرو فرض نه دی)

## د جمعی د لمانځه د صحت شرطونه:

- ✓ جماعت ( د جمعی د لمانځه د پاره جمعه یو لازمي شرط دی)
- ✓ جامع مسجد
- ✓ وخت ( د جمعی لمونځ پخپل وخت کې فرض دی)
- ✓ خطبه ( د جمعی د لمانځه د پاره خطبه شرط ده)

## د خطبي سنتونه:

- ✓ خطبه باید له لمانځه څخه مخکی وی
- ✓ خطیب به خطبه په ولاړه لولی
- ✓ خطبي به دوه وي چي خطیب به دواړو ترمنځ په کیناستو سره جلاوالی راولی
- ✓ خطیب به خطبه به په لوړ ځاي ورکوي لکه ممبر یا بل اوچت ځای
- ✓ خطیب به خلکو ته مخامخ ودریږي

## د خطبي اداب:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خطبي په وخت کې له خطيب سره نږدې کيناستل او خطيب لور ته مخ کول مستحب دی که د خطبي په وخت کې د رسول الله ^ص^ نوم واخستل شي بايد په زړه کې پرې درود وويل شی

## د خطبي حکمت:

د ادي چه مسلمانان د دين له احکامو خبر شي او په عمل کولو ته وهڅيږي او اتفاق او اتحاد په منځ کې پيدا شی

**د خطبي د اوريدو حکم:** د جمعي په ورځ د خطبي اوريدل او ورته چپ کيناستل واجب دی.

**د جمعي سنتونه:** د جمعي په لمانځه کې اته رکعته سنت دی څلور مخکې او څلور وروسته ......

## د جمعي په ورځ مستحب کارونه:

- ✓ غسل کول
- ✓ د لمانځه د پاره مسجد ته وختي تلل
- ✓ پاکي او ستره جامي اغوستل
- ✓ مسواک وهل
- ✓ د خوشبوي استعمالول

## په سفر کې د قصر د لمانځه حکم:

د سفر په حالت کې څلور رکعته لمونځ دوه رکعته اداء کيږي.

عمرعلی ابن عمر ابن معور اوجابر يي واجب ګڼي او دا د احنافو مذهب هم دی. امام مالک يي سنت مؤکد ګڼي حنبلي مذهب کې قصر جايز او له پوره لمانځه نه غوره دی د شوافعو هم دا مذهب دی .

---

**نفلي لمونځونه :** نفلي لمونځونه نه يواځي دا چي انسان الله تعالی ته نږدي کوي بلکی د هغه ولي او دوست يي جوړوي تقوا او پرهيزګاري پکي پيدا کوی. روح يي پاکوي اخلاق يي پاکوی اخلاق يې سپيڅلی کوی معنويت يې لوړي درجي ته اوچتوي بلکي د قيامت په ورځ د فرضي اعمالو ځاي نسي

## د نفلي لمونځونو ځني ډولونه:

1) تهجد (قيام الليل) : په نفلي لمونځونو کي لومړي مقام د تهجدو د لمانځه دی په دی سره انسان لوړو درجو ته رسيږي .....وخت : د تهجدو لمونځ د شپي په اوله او منځني برخه کي هم کيږي خو د شپي اخرنی برخه کي کول غوره دی ....

د تهجد د لمانځه رکعتونه د ابن عباس^(رض)^ څخه روايت دی رسول الله^ص^ د شپي په لمانځه د ډير ټينګار او تشويق په خاطر فرمايل چي د شپی لمونځ پر ځای لازم وګرځول که څه هم يو رکعت وی خو پخپله رسول الله^ص^ د وترو په شمول يو لس رکعت هميشه کړي دی

د روژي په مياشت کي د ماسختن له لمانځه وروسته نفلي لمونځ کول د تراويحو د لمانځه په نامه ياديږي. تراويح د ترويحه جمعه ده استراحت ته ويل کيږي دا چي له څلورو رکعته لمونځ کولو وروسته پدي کي دمه کيږي نو ځکه د تراويحو پ لمانځه سره ددي لمونځ نوم مشهور شوي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



2) تراويحو د لمانځه حکم : د ټولو علماؤ په اتفاق د تراويحو لمونځ د سړيو او ښځو د پاره مؤکد سنت دی.څوک يې چې نه اداء کوي د مؤکد سنتو پريښودونکی او د راشده خلفاؤ مخالفت کوونکی دی
3) د څاښت لمونځ: هغه نفلي لمونځ دی چې د لمر له راختلو وروسته د لمر تر زواله اداء شی دغه لمونځ په احاديثو کی د اشراق ، ضحی او وابين په نامه ياد شوي دی
4) د تسبيح لمونځ : د تسبيح لمونځ د نورو لمونځونو څخه يو ځانګړی لمونځ دی چې رسول الله<sup>ص</sup> خپل تره حضرت عباس<sup>رض</sup> ته د هغی ځانګړی لارښونه کړي او د هغی له اجرونو او ثوابونو څخه يې خبر کړي دي نو مسلمان بنده بايد له دغه د لمانځه څخه غافل پاتي نشی او له ثوابو څخه بايد برخه من شی لس ډولوله ګناهونه پري بخښل کيږي ... لومړنی، وروستنی، مخکنی، اوسني، هغه چې په قصد سره کړي وی واړه، غټ، پټ، ښکاره.....................................
5) د حاجت لمونځ او دعا
6) استخاری لمونځ او دعا
7) دسفر نفلونه
8) د توبي لمونځ
9) د تحيته الوضوء لمونځ
10) د تحته المسجد لمونځ
11) د استسقاء لمونځ(باران)
12) د کسوف او خسوف لمونځ

---

**د زکات تعريف:** زکات په لغات کي نمو (ټوکيدلو) زياتوالي برکت او پاکوالی ته ويل کيږي او د اسلامی فقی په اصطلاح کی د شتمن مسلمان په مال کي د مستحقينو هغه برخه ده چي د شريعت د ټاکلی اندازي سره سم ورکول کيږي زکات د اسلام له پنځو بناؤ څخه يوه مهمه بناء ده چي په قران کريم کي د لمانځه سره يو ځای په ۸۲ ايتونو کي ذکر شوي دي.

**د زکات حکم:** د قرانی ايتونو او نبوي احاديثو او د اسلامی امت په اجماع سره په هر شتمن او نصاب څښتن مسلمان باندی فرض عين دی که څوک ور څخه انکار وکړی کافر دی او که څوک يې نه ورکوي فاسق او کنهګار ګڼل کيږي مسلمان حاکم او مشر به يې په زوره تري اخلی

**د زکات د فرضيت تاريخ:** زکات په مکه کي پر مسلمانانو فرض شوي ؤ خو نصاب او اندازه يې نه وه معلومه بلکی دا کار يي د مسلمانانو دائي او نظر ته پريښی ؤ د هجرت په دويم کال د زکات په هکله تفصيلی احکام را نازل شول نصاب معلوم شو او د هر جنس هغه اندازی هم وټاکل شوي چي زکات په کی ورکول کيږي

## په اسلام کي د زکات ارزښت:

- ✓ څرنګه چي په بدنی عباداتو کی د لمانځه ارزښت دی او اسلام پری زيات ټينګار کړي دی دغسی په مالی عباداتو کی د زکات ارزښت هم دی
- ✓ کله چي د رسول الله<sup>ص</sup> د وفات نه وروسته ځنی خلکو د ابوبکر صديق<sup>رض</sup> د خلافت په زمانه کی د زکات د ورکړی څخه انکار وکړه نو ابوبکر د زکات د مانعينو پر خلاف هماغسی د جهاد اعلان وکړه څکه څنګه چي د کفر په مقابل کړی وه
- ✓ لمونځ او زکات د مؤمنانو د ايمان نښه ده

**د زکات حقيقت :** په حقيقت کي زکات يواځي اړمندو خلکو ته د مال له ورکړی عبادت ندی بلکی دا هغه ستر عبادت دی چي د مؤمن بنده په زړه کی رڼا پيدا کوی له مال سره يې مينه کموی اخلاق يي سپيڅلی کوی او له زړه څخه يې هر ډول مادی او معنوی چټلی لری کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د زکات په ورکړه هڅونه او تشویق:

- ✓ زکات په ورکړی سره اخلاق جوړیږي او مال زیاتیږي
- ✓ زکات ورکول مال نه کموی
- ✓ الله تعالی په زکات سره مال زیاتوی او په سود سره یې له میځه وړي
- ✓ څوک چې زکات ورکوی نو مال یې له هر ډول افت څخه په امن پاتی کیږي
- ✓ د الله تعالی په لاره کی یوه صدقه یو په اوه سوه بدله لری

**د زکات د نه ورکوونکو جزاء:** درد ناکی سزا زیری ورکړه دوی ته چی سره او سپین زر خزانه کوی او هغه د الله په لاره کی نه لګوی

کوم قوم چي زکات نه ورکوی له اسمانه به پري بارانونه بند شی

**د زکات او ټکس ترمنځ اساسی توپیر:** زکات د ټکس په څیر کوم مالی بار نه دی چی حکومتونه یی د ولسونو په غاړه اچوی بلکی دا یو عبادت او اسلام له اساسی ارکانو څخه یو رکن دی چی بنده پری الله ته نږدی کیږي نفس ئي پاک کیږي او ټولی ته ستر اخلاقی او روحی ګټی رسوی

## زکات د صحت په هغه چا باندی فرض دی چی لاندی شرطونه ولری:

- ✓ مسلمان وی
- ✓ بالغ وی کوچنی نه وی
- ✓ عاقل وی لیونی نه وی
- ✓ ازاد وی غلام نه وی
- ✓ دومره مال ولری چی نصاب ته ورسیږي
- ✓ پور وړی نه وی

**د زکات د صحت شرطونه:** زکات ورکونکی زکات هغه وخت درست دی چی لاندی شرطونه ولری

- ✓ مسلمان وی
- ✓ د زکات ورکولو نیت ولری
- ✓ د زکات مال د شریعت له خوا ټاکل شویو ځایونو کی ولګوی
- ✓ زکات اخستونکی شخص د مال مالک وګرځول شی
- ✓ عاقل وی لیونی نه وی
- ✓ بالغ وی کوچنی نه وی

**د زکات نصاب:** نصاب هغه اندازه مال دی چی اسلامی شریعت په کی زکات لازم کړی دی له ۵ اوسقو څخه په کمو خرماؤ کی زکات نه شته له پنځو اوقیو( ۲۰۰ درهمه ) څخه په کمو سپنو زرو کی زکات نشته له پنځو اوښانو څخه کمو اوښانو کی زکات نه شته

## اسلام په لاندی شیانو کی زکات لازم کړی دی :

- ✓ سره او سپین زر
- ✓ فصلونه او میوی
- ✓ د تجارت مالونه
- ✓ څاروی

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ معدنونه او رکاز(خزانه)

---

## د مړی د ځنکدن پر وخت باید کوم کارونه ترسره شی :

- ✓ د هغه مخ باید قبلی ته مخامخ شی
- ✓ هغه ته باید د کلمی طیبی تلقین وشی
- ✓ د هغه ترخنګ د سورت یا سین لوستل غوره دی
- ✓ کله چی د هغه ساه وخیژی بیا په چغو چغو ژړل ګرایون شکول بدرد ویل حرام دی
- ✓ هغه باید په ښه نوم یا شی او د هغه د بدو چارو یادونه ونه شی

## مړی ته د غسل ورکولو سنت طریقه :

**د جنازی د لمانځه احکام :** د جنازی لمونځ فرض کفائي د ی فرضیت یې له قران او سنتو څخه ثابت او منکر ورڅخه کافر دی

د جنازی د لمانځه فرضونه:

- ✓ څلور ځله الله اکبر ویل هر تکبیر د یو رکعت ځای نیسی
- ✓ قیام په جنازه کی بی له غذره کیناستل جواز نه لری

## د جنازی د لمانځه سنتونه:

- ✓ نیت کول ( په زړه کی تیرول چه د فلانی کس جنازه به کوی
- ✓ حمد او ثناء ویل
- ✓ درد شریف ویل
- ✓ دعا لوستل (الهم اعفرلی حینا و میتینا و شاهدنا وغابینا و صغیرینا و کبیریبا و ذکرینا و انثی نا الهم من احییته منا فه حییه علی الاسلام ومن توفیته منا فتوفه علی الایمان)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**